
د اسلام دين وينه غواړي
جهادي ناول
ليكوال: مصطفى (خبيب صاحبزى)

# د اسلام دين وينه غواړي

## جهادي ناول

ليکوال:

مصطفی (خبیب صاحبزی)

# بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب ځانګړتیاوې

د کتاب نوم: د اسلام دین وینه غواړي

لیکوال: مصطفی (خبیب صاحبزی)

ډېزاین: شاهین (حکیمي)

د کتاب شروع: ۱۵\۶ \۱۴۰۳

د کتاب ختم: ۲۰ \۸\۱۴۰۳

د تلفون شمېره: ۰۷۷۶۷۲۵۶۱۸

اېمیل ادرس: Mustafakhobib@gmail.com

د کتاب په هکله:

د اسلام دین وینه غواړي ـ یو جهادي، حماسي ناول دی، چې یو تاند او روان قلم څښتن لیکوال (خبیب صاحبزی) صاحب د ځینو واقعي پیښنو څخه په اقتباس لیکلی ـ

اصلي کر کټر وقاص دی، وروسته نور فرعي کر کټرونه هم لري: عمر، خالد، هدایت، خطاب، فاتح، یاسر، دا فرعي کر کټرونه دي، دا ناول ته د هغوی نوم ورکو، چې، د اسلام په خاطر باندې څومره تکلیفونه تېر کړي دي، دا یو دردونکی ناول دی، چې په څو موضوع ګانو باندې وېشل کیږي:

خپله وعده یې پوره کړه، چاپې اوازه، چاپه راغله، جاسوس ونیول شو، تحقیقاتو پړاو، سره قطعه راورسېده، فتحه، د مدرسې په بهانه او کله چې واده په وینو بدل شو، دا ده کتاب موضوع ګانې دي، چې هره یوه له جذبې تصویرونو څخه ډکه ده.

که څوک دا کتاب تر پایه ولولي، ان شاالله پښېمانه به نه شي، دا ناول ډېر په ساده او روانه ژبه باندې لیکل شوی دی.

# ډالۍ!

ګرانې خوږې مور او پلار ته مې دا کتاب ډالۍ کوم، چې له ماسره يې د ژوند په دوران کې ډېر زحمتونه ويستلې دي .

# ډالۍ!

ګران او محترم استاذ قاري صاحب عجب خان (محمدي) او محترم استاذ سراج الدين (حبيبي) ته

# سریزه

د لوی څښتن تعالی په نامه
الحمد لله، والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی اله وصحبه ومن والاه.
اول د نبیص نه هېردونکې او تل پاتې تحفه وړاندې کوم، چې عبارت ده له: اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاتو!
امابعد: په ننۍ نړۍ کې د ناول ډېر مینه وال لري خو پرته څو محدودو پښتو ناولونه اسلامي اړخ نه لري، یوازې او یوازې د مجازې مینه او فحشا ترې زده کیږي، نو ما هم ښه وګڼل تر څو یو داسې ناول ولیکم، چې د امت مسلمه ځوانان له خوبه بیدارشي.
په نړۍ کې ډېر ناولونه شته، خصوصا د مجازي مینې په بارک کې، چې انسان ګناه طرف ته کش کوي.
زه له ځوانانو څخه دا هیله لرم!
چې د خپل تاریخ د وګوري!
د رسول الله ص سیرت د مطالعه کړي، د صحابوکرامو د ژوند سیرت د مطالعه کړي.
نورالدین زنکي، سلطان محمود غزنوي، محمد بن قاسم، طارق بن ذیاد تاریخ د مطالعه کړي، تر څو له خپل اصلیت نه خبر شي، ان شاالله چا چې د خپل نبي (ع) د سیرت د صحابوکرامو د ژوند سیرت، نور را په دېخوا تاریخ د مسلمانانو وګوري، ان شاالله د کفارو د درغو وعدو له بې ځایه تبصېرو باندې نه دوکه کیږي.
ځکه کفارو ته دا پته ده چې د مسلمان بریا په جهاد کې ده، د مسلمان عزت، د ژوند کامیابي په جهاد کې ده، نو هغوی دا کوشش کوي، چې د جهاد کلمه له مینځ نه ورکه کړي، په نورو شیانو باندې اخته

کړي، د دنيا په مينه عيش نوشترت باندې او خبر نه دې چې امت مسلمه په غيره کې داسې ځوانان لري، چې د خپل ځانونه په باروتو باندې سينګار کوي، د کفارو مقابل د سپر په شان درېږي؛ د کفارو په جالونو او چلونو کې ګير نه شئ ځوانانو!

نو راځئ! ځوانانو له ټک ټاک له بې ځايه سريالونو فلمونو عشقي ناولونو ډرامو سندرو له ځايه خپل تاريخ وګورو او مطالعه يې کړو، هسې نه چې هم په دې دنيا او هم په هغې دنيا ناکامه نه شو.

دا ناول چې په نهو موضوع ګانو باندې ترتيب شوی دی، په اصلي واقعيتو کې له تخيل څخه هم کار اخيستل شوی دی، ما سره په دې کتاب کې ځينو کسانو ماسره ډېره همکاري وکړه، او ډېرو ملګرو زه د دې ته و هڅولم چې يو داسې ناول وليکم چې په دې پراخه نړۍ کې ډېر ضرورت ؤ، کومو کسانو چې له ماسره مرسته کړې ده، عبارت دي له محترم استاذ سراج الدين( حبيبي) محترم استاذ ميوند( بختيار) او نور ملګري، شاهين(حکمي) قيس، نويد، عبدالبصير، انجينر شفيق الله ، محمد يعقوب، حسين، رحمن الله، او داسې نور... .

او ځينو نورو زما ډېر مخالفت يې کاوه، زه نه غواړم چې دلته نومونه ذکر کړم.

**اوبل دا وصيت درته کوم: چې زما مور او پلار له دعا څخه هېر نه کړئ!**

## تقریظ

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله وعلى اله وصحبه ومن والاه.

اما بعد:

داسلام دین وینه غواړي، یو جهادي، حماسي ناول دی، واقعا ډېر ښکلی ناول دی، یعني ما خو ډېر کتابونه کتلي دي، علمي کتابونه، ناولونه، لنډې کیسې، خو په ناولونو کې داسې ناول تر اوسه ما ویلی نه ؤ، د لیکوال کمال دا دی، چې پیښې او محاورې یې ټولې تر ډېره په خپل اصلي شکل لیکل شوې دي، خو ډېر کم له تخیل څخه هم کار اخیستل شوی دی.

محترم صاحبزي صاحب چې کله ما ته دا کتاب یې راولېکه، نو په هغې ورځې زما زړه ډېر خوشحاله وه، نه پوهېږم چې ولې؟ ځان ته مې چای په پیاله کې واچوه او کتاب مې را واخیسته ځان سره مې ویل: راځه شل صفحې وګوره، نور سبا ته وګوره، خو چې کله کتاب مې خلاص کړ، ویلو ته مې شروع وکړه، نور زه پوه شوی نه وم، چېځ ما څو صفحې کتاب ویلی دی، یو وخت مې پیالې ته مې لاس کړ، چې چای و څښم، ګورم! یخ کرخ ؤ، مالې خیر اوبه څښم، چې ورته ومې کتل چای ؤ، حیرانه پاتې شوم! ځان سره مې ویل: چای خو دې لس دقیقې مخکې پیاله کې واچوه او خبر خو نه وم، چې څلور پنځه ساعته تېر شوي دي، یعني کتاب ویلو دومره جذب کړی وم، چې بیخي په ځان نه پوهېدم، چې زه په کور کې ناست یم،

او که د جهاد په ډکر کې یم، زما په ذهن کې یې داسې تصویرونه یې جوړو کړې وو، الله تعالی د صاحبزي صاحب ته د ډېر عمر ورکړي، چې داسې یو جهادي ناول یې لیکلی دی، چې په د پراخه نړۍ کې ډېر ضرورت وو، زما له زړه نه خوشحالي لاړه، نور د شل کلن جهاد په فکر کې غرق شوم، درې څلور ورځې خو ډوډې هېڅ خوند نه راکاوه.

صاحبزي صاحب واقعا ډېر زحمت وېستلی دی، په کم عمر کې داسې یو کتاب یې یو داسې کتاب لیکلسی ده، چې لوستونکی بېخې ورته حیرانیږي، بس الله تعالی مور او پلار ورته تر ډېره ژوندي لري.

و اخرو دعوانا ان الحمدالله رب العلمین.

عبدالحمید ( عادل)

# خپله وعده یې پوره کړه

د شپې ډېر تېز باران ؤ، د باران ترپهاري، د ناوو شرهاري، له خوبه يې راويښ کړ، په ځای کې کېناستېده، خوله يې وازه کړه، سوړ اوسېلی يې وايست، جيک شو، ميده ميده قدمونه يې د کړکې په طرف واخيستل، ورسۍ يې خلاصه کړه، نرمه هوا يې پر مخ ولګېده، ساه يې بنده شوه، په اسمان کې به هم غړمبهاري کېدل، د ورسۍ شيشې به يې لرزولې، د بريښنا رڼا به يې په سترګو کې تصويرونه جوړول، نرمې هوا به د ونو پاڼې په نڅا کولې؛ ګوته به هم درې، څلور ځايه ځاځېده، يوه يوه لحظه باد به په کوټه کې ترړپ تروپ کېده، په توشکه باندې د چت اوبه ځاځېدې، وقاص منډه کړه، دوه، درې کاسې يې راوړې، کوم ځای چې ځاځېدې هلته يې کېښودې.

لرزه شوه، تلفون ته زنګ راغی، ورغی تلفون يې د چارچ څخه يې راواخيست، نمبر ته يې وکتل، نا معلومه شمېره وه، شنې تکمې ته يې فشار ورکړ، غوږ ته يې ونيؤ، له خوبه ډک اواز يې واورېده:

ـ سلام جانم!

ـ وعليکم وسلام.

ـ څنکه يې؟

ـ شکر ده، الحمدالله.

ـ څنکه چې لا ويښ يې!؟

ـ باران ترپهاري، د تندر غړمبهاري، له خوارۀ خوبه څخه يې راويښ کړم.

ـ ژوند دې په خير ده، شپې ورځې دې په خير تېرېږي ګرانه!؟

ـ هو، الحمدالله

وبښه ته څوک يې؟

ـ زه څوک يم!

ـ هو، ته څوک يې؟

ـ زه ستا لېونۍ.

ـ کومه لېونۍ!؟

ـ کومې چې په تا باندې زړه بايللی.

ـ اوبښه خورې، چا ته مو زنګ وهلی دی!؟

ـ ما چا ته زنګ وهلی!

ـ هو، تا؟

ـ ما ته ته زنګ وهلی.

ـ زه څوک يم؟

ـ ته خو وقاص يې کنه.

ـ هو زه وقاص يم، اوس زه څه خدمت درته وکم؟

ـ هېڅ خدمت مه کوه!

ـ نو بيا څه وايې؟

ـ خبره شوې يم، چې اول نمره شوی يې.

ـ هو اول نومره شوې سم، ولې؟

ـ تبريک موشه.

ـ خیروسې.

ـ خو ته اوس څوک یې؟

ـ زه ستا لېونۍ.

ـ ته زما لېونۍ یې، ته خو په ریښتیا هم لېونۍ یې،

ـ ښه نو اوس خو ووایه: چې زه تارسره مینه لرم!

ـ زه یې نه وایم.

ـ ولې نه وایې، شرمیږې؟

ـ نه ولې وشرمیږم.

ـ خیر یو ځلي ووایه، مینه، درسره، لرم.

ـ وخت نه لرم.

ـ ګوره وقاصه!

ما ته باهانې مه کوه خیر ده، که چیرته زه مړه شوم، قاتل به مې ته یې

ـ نه کیږي، وخت نه لرم.

ـ که ته وخت لرې او که نه لرې، زه درسره مینه لرم، چې په بدن کې مې یوه قطره وینه یې، زه تا سره مینه لرم لرم، لرم به یې.

ـ ګوره! لېونۍ، زه غریب سړی یم، زما له مینې سره څه؟

ـ نه نه، که ته وې، زه به هم یم او که ته نه وې، زه به هم نه یم، پوه شوې کنه!

سوړ اوسېلی یې وایست، له ځان سره یې وویل:

و خدایه دا په څه بلا واوښتلم.

تلفون کې همدا یې له هغې خوا ویل:

ـ اورې، اورې څه شوې!

ـ اورم.

ـ ښه فیصله د وکړه!

ـ نه.

ـ سمه ده، ماسره مینه مه کوه، خو دومره ووایه:

چې مینه درسره لرم!

ـ خو ته څوک یې؟

ـ درته ووایم!

ـ هو.

ـ بیا وایې مینه درسره لرم.

ـ هو بیا یې وایم.

ـ وعده ده!

ـ وعده ده.

ـ زما نوم ډې.

نور یې چې نوم ویل:

په دې وخت کې د وقاص مور دروازه خلاصه کړه، وقاص تلفون زر خاموشه کړ، د بالښته شا ته یې کړ، مور یې راغله، زویه ته یې وویل:

جیک شوی یې، لمونځ د وکړ!

ـ نه مورې، اوس یې کوم.

ـ دغلته چې کوې، چې ناست یې.

باهانه یې ورته وکړه، مورې د تهجد لمونځ مې وکړ، بیا خوب رانغی، کرار همدلته کېناستېدلم.

ـ افرین زویه، د تهجد لمونځ کوه، موږ ته هم دعا کوه!

ـ وقاص په مسکا ورته وویل:

سمده مورې.

وقاص اودس وکړ، کوټې ته راغی، په لمانځه ودرېده، نه پوهیږم دوه رکعته لمونځ یې درې رکعته وکړ، که څلور، بیا به یې نیت له سره وتړه، بیا به یې لمونځ وکړ، بیا به غلط شو، خو اخر د سهار لمونځ یې څو وکړ!

دعا ته یې لاسونه پورته کړلو، دعا یې وکړه، وروسته ذکر یې کاوه:

لا اله الاالله لا اله الاالله ...

یو وخت د لااله الا الله له ځایه لیلا لیلا لیلا ویل.

مور یې غږ کړ:

وقاصه زویه و وقاصهزویه!

جای نماز یې ټول کړ، ور ناري کړې، څه شی وایې مورې!

ـ زویه د مهمانخانې چت څاڅې هغه وګوره!

ـ سمه د مورې اوس ورځم.

لرګینه زینه یې راواخیسته ، د مهمانخانې بام ته وخوت، کوم ځای چې څا څېده، هغه ځای یې ښه په پښو یې تخته کړ، یو غږ یې تر غوږو شو، اعلان اعلان اعلان

ښه یې غوږ ورته ونیو،

اعلان! اعلان! اعلان!

د حاجي وزیرګل زوی شهید شوی دی، دوه بجې یې جنازه ده.

وقاص چې دا اعلان یې واورېده، په اعصابو کې ډز شو، په تېزۍ سره له بام نه راښکته شو، مور ته یې وویل:

ـ تاسې چای وڅښئ!

زه بیا راځم.

ـ چېرته ځې زویه!

ـ وقاص ورته وویل:

د حاجي وزیرګل زوی شهید شوی دی، عمر زما همصنفی؛ وقاص نورې خبرې ونه کړې، په منډه له دروازې ووت.

مورې ورنارې کړې، دا واسکټ د واغونده، باران ده.

وقاص ونه درېده، په منډه منډه د عمر کلي ته یې ځان ورساوه، د عمر کور ته چې نږدې شو، د ژړا اوازونه یې په غوږونو کې انکازې کولې، د وقاص له غټو سترګو اوښکې، د بېګاني باران په څېر روانې وې، چې ناګهانه یې په ذهن د کې عمر دغه بیت راتاو شو:

سینګارونه د دنیا مې نه خوښیږي

شهادته ما په سرو وینو سینګار کړه

اخ ! اخ ! عمره، ته خو ریښتیا په سرو وینو سینګار شوې، خپل ارمان ته ورسېدې، تا خو کړې وعده پوره کړه، زما دعا به هم الله تعالی قبوله کړي؛ ان شاءالله، نور یې دسمال سترګو ته ونېو.

په دې وخت کې شور ماشور شو، وقاص ورمنډه کړه، له سر نه یې خولۍ ولوېده، بیروبار ته یې ځان ورساوه، په دواړو لاسونو باندې یې خلک ټېله کول، چې د شهید جنازې ته ورسېده، په ګونډو شو، له ځمکې نه دوړه پورته شوه، د شهید سر یې را جیک کړ او له خپل زړه سره یې ونېو، په ژړا کې یې وویل:

خپله سپېڅلې وعده دې پوره کړه، غوښتل یې نور څه هم ووایې، نورې خبرې یې په ژړا کې ورکې شوې، دومره یې وژړل لکه اسمان چې د باران په شکل وژاړي، درب شو، ولوېده بې هوښه شو، څو لحظې پس چا یې سترګو ته اوبه وروشېندلې، کرار کرار په هوښ راغی، خو تر ډېره وخته پورې یې اعصابو کار نه کاوه.

یو سپین ږیري غږ کړ، هله ځوانانو د دغه ځوان تر اوږو لاندې خپلې اوږې ورکړئ!

د جومات چوترې(صفې) ته یې ورساوئ!

باسطه زویه ته منډه کړه!

زموږ له کوره لږ مالګه راوړه، چې شربت ورته جوړ کړو، وقاص له یو څو ځوانانو سره د جومات چوتره(صفه) کې ناست ؤ، ټولو ځوانانو د وقاص په ګردو سپېره مخ ته کتل.

ـ وقاص یو سوړ اوسېلی وایست، په لاس کې یې تسپې اړولې راړولې، شونډې یې وخوځېدې، د عمر د ژوند یوه جالبه خاطره یې ځوانانو ته شروع کړه، ویل یې:

عمر ډېر ښه هلک ؤ، له شپږم صنف نه تر دولسم صنفه پورې زما همصنفی ؤ، تر اوسه پورې ما له د ده له خولې نه بده خبره نه ده اورېدلې، یوه عجیبه خاطره درته ووایم: یو کالې چې په اتم صنف کې وو، له مکتب نه پټ شوو، یو بل ته مو ویلی، ښه پټ خو شو، اوس څه کوو؟

ما ته یې ویل: راځه ما پسې، هغه مخکې ؤ، زه ورپسې وم، چې د کچالو پټي ته یې ودرولم، او ما ته یې ویل:

ـ په عملیاتو کار شروع وکړه!

ـ ما ورته ویل: په څه شي کار شروع کړم؟

ـ هغه راته ویل: په کچالو باندې، نن قولخکه کوو.

ـ ما ورته وویل: خو که د کچالو څښتن راسي؟

ـ ډاریږه مه وقاصه! ماسره چې ګرځې ډار له زړه نه باسې!

ـ سمه ده عمره، ما ته یې پریږده

ما هم وار له وار نه د کچالو په جویه باندې مې کار شروع کړ، په دې وخت کې څښتن راغی، بېلچه یې په لاس کې وه.

وقاص پیالی ته لاس کړ، پاتې د مالګه شربت یې یو غړپ کړ، غوښتل یې چې خبرو ته ځان جوړ کړي، د عمر پاتې قیصه دغه ځوانانو ته وکړي، خو وخت یاري ورسره ونه کړه.

په د وخت شورماشور شو، قیصه همدلته ځای پر ځای پاتې شوه، له ځایه جیک شو، دسمال ورپسې ښنېده، د جنازې کټ ته یې ځان ورساوه، دا د فه چا د جنازې کټ ته پرې نښوده، وای چې بیا بې هوښه نه شي.

وقاص نږدې خړ دېواله ته تکیه وکړه او د خیالونو دنیا کې ډوب شو، د عمر ښېره به یې سترګو سترګو ته کېده، شونډې په خوځېدو شوې، تا به ویل:

چې ذکر کوي، خو هغه د عمر صفتونه له ځان سره بیانول، چې!!!

د عمر ځومره ښایسته ځواني وه، له قد نه جګ لکه چنار، اوږدې زلفې لکه ماران، تورې سترګې، لکه چنک بادام، جګه پوزه، له رنګه سپین سورته مایل ؤ، هی! هی! هغه ځواني نن الله ج ته په سرو وینو کې سینګار لاړه، هغه ځوانې نن په وینو رنګ وه، د سنګر په ګردو سپېره وه.

***

یوولس بجې جنازه تیاره شوه، جنازې ته ډېر له لرې لرې خلک راغلي وو، دومره ډېر بیروبار وو، چې اوږه په اوږه ، لاس په لاس به لګېدل، تا به ویل:

چې سهاراعلان وشو، هغه د اسرافیل شپلۍ ؤ، اوس د محشر ورځ ده، جنازه تیاره شوه یو سپین ږیري له ځلورم صف نه نارې کړې، تاق صفونه برابر کړئ!

الله ج مو وبښه، ملا امام ځلور ځله الله اکبر وویل، له الله اکبر ویلو څخه وروسته سلام یې وګرځو، یو دم ګډوډي شوه، ځوک خپلو کوروته لاړل، ځوک د هدیرې په طرف لاړل، د شهید جنازه ځلور نفرو په خپلو اوږو جیګه کړه او تر هدیرې پورې په نوبت نوبت یې

ویوړه، د جنازې تر شا دوه واړه واړه ماشومان را روان وو، په لاس کې بیرغونه نیولې وو، هر قدم به یې چې اېښوده، له ځمکې به سپېره ګردونه پورته کېدل.

دا د عمر ناسکه وروڼه وو، عمر له مور یو ؤ، مور یې هم وفات شوې وه، تر څلور کلنۍ پورې امه یې پالنه وکړه، امه یې ډېره جتّه ښځه وه، ډېر به ورته په قهر کېده.

خړ ګردونه له ځمکې پرمخ خواره واره شول، د بېلچو(چارېو) ګړنګوکړونګ پورته شو، هغه! بهترین دوست به یې دوه بېلچې خاورې به په هتمن پرې اچولې، هغه به که چا ته نوبت ورواسېده، له خاورو سپارلو څخه وروسته یو کس چې له قد نه ټېټ ؤ، له بر نه پلن او تر سینې پورې اوږده ګڼه سره ږېره یې ؤ، د واسکټ له جیب نه لرګینې خړې تسپې راوتلې وې، باد به کله کله د تسپو څونډی ښوراوه، جبرابو ته یې لاس کړ، تر پوندۍ پورې راکش کړې، ولاړ شو، د پایڅه درزونه سره برابر کړل، شا یې قبلې ته کړه، مخه یې قبر ته واړاؤ، په ږیره لاس یې تېر کړ، وچې شونډې یې وخوځېدې، داسې تقریر یې وکړ، چې د خلکو ویده زړونه یې راویښ کړل، مولوي صاحب له حمد او ثنا ویلو څخه وروسته وویل:

ګرانو مسلمانانو وروڼو! دا چې وخت کم دی، ډېرې خبرې کول نه غواړم، نو صرف د جهاد په باره کې په لنډه توکه وضاحت کول غواړم.

په سره ږیره باندې لاس تېر کړ، په وچو شونډو یې وویل:

وروڼو جهاد څه ته وایي!؟

او په چا فرض عین دی.

ورونړو! جهاد په لغت کې زیار او کوشش ته وایي او په اصطلاح کې د الله ﷻ د رضا په خاطر له کفارو او د هغوی له غلامانو سره جنګ کولو ته جهاد وایي.

ـ ایا اوس په افغانستان کې جهاد فرض عین نه دی!؟

ـ ایا امریکایانو په افغانستان باندې حمله نه ده کړې!؟

په جذابه لهجه یې وویل:

نن ورځ جهاد فرض عین دی، په نارینه او ښځینه باندې فرض عین دی.

لنډه ساه یې له سږمو څخه ووایسته، پوزه یې غونجه کړه، له غونجولو سره یې تندي هم درې خطونه پیدا کړل، په زوره یې وویل:

څنکه به لا نن ورځ جهاد نه فرض کیږي، چې په قران باندې ریشخند وهل کیږي، څنکه به نه فرض کیږي، چې په مبارک علیه وسلام باندې ملنډې ووهل شوې، دا زموږ ځوانان نن هم ویده دي، زه خصوصاً په ځوانانو باندې غږ کوم، ځوانانو جیګ شئ!

شهادتونه وېشل کیږي، تاسې دا شهادت په مرتبه نه یاستئ خبر، چې شهادت څومره مرتبه لری!؟

د شهادت ګوته اسمان ته ونیوله او وویل: الله ﷻ ته به څه ځواب وایئ! چې زما نازنین محبوب جهاد کاوه، په جهاد کې یې مبارک غاښونه شهیدان شول، تندی یې مبارک زخمي شو، ولړه، تنده یې د جهاد او د دین د بقا په خاطر تېروله، د محشر په ورځ الله ﷻ خالې دومره درته ووایې:

اې مشره! اې کشره ! اې ځوانه! د دین په خاطر مو څه وکړل!؟

اول ما څه وکړل!؟

په موږ باندې چا خو د ګل وار هم نه دی کړی؛ دا خبرې چې وقاص واورېدې، جیټکه یې وخوړه، له پولې نه لاندې وښویېده، اوچته جیک شو، لاسونه سره وپړقول، سپېره ګردونه له لاسو څخه پورته شول؛ مولوی صاحب په لاس باندې وقاص ته اشاره وکړه، وویل:

دغه ځوان ته وګورئ!

ماشاالله ښه قد قواره لري، د شل نفرو زور لري، داسې ځوانان چې د کفارو په مقابل کې شل، پنځه ویشت نفره پېدا شي، بوش نومیږي که کوش نومیږي، ولکه هغه په امریکا کې ټینګ شي.

وقاص له ځان سره وویل:

یاره مولوي صاحب په دې خبرو باندې مې سبا زېړکۍ اوږې ته کړه.

مولوي صاحب ډېر ستړی شو او وویل یې:

نورې خبرې کول نه غواړم، دا چې وخت کم دی، الله تعالی دې د عمر کورنۍ ته اجر عظیم صبر جمیل ورکړي؛ الله تعالی دی موږ ته د عمل کولو توفیق راکړي، واخرو دعوانا ان الحمد الله رب العلمین.

ټول غلی ناست وو، څوک لاس تر زنې ناست وو، د چا سترګې سرې وې، د چا لمدې وې، چا به د څادر په څنډه باندې اوښکې پاکولې، نرۍ شمال به د شهیدانو د قبرونو بیرغونو رپول او خاموشۍ فضا نیولې وه، بازې خلک خپلو کورونو ته لاړل او بازې خلک مسجد شریف ته لاړل، د مسجد له اشپزخانې نه شنه دودونه پورته کېدل، چایونه د مېدل، سوجي حلوا تیاره وه، له مازدیګر له جمعې وروسته ټولو نسونه غوړ کړل، په اخر کې یو لنډ سورت او دعا څخه وروسته به پورته کېدل.

وقاص کور ته راغی، دروازه یې خلاصه کړه، چې د مور سترګې پرې ولګېدی، مور یې پوښتنه ورنه وکړه؟

ـ زویه شهید مو خاروته وسپاره؟

ـ هو مورې.

ـ څنګه شهید شوی ؤ، زویه!؟

ـ مورې، بېګاه ښکته په پوسته باندې جنګ ؤ، عمر پوستې ته ډېر نږدې ؤ، اربکیان د پوستې له شا نه پرې راغلې وو، بېچارګی یې همالته شهید کړی ؤ.

ـ څه څه بېچارګی.

ـ ولې مور؟

ـ زویه! عمر ملګري د داسې مرګ ویوړ، چې دا مرګ الله هر چا ته نه ورکوي، الله تعالی ته چې څوک خوښ وې، هغه ته دا سپېڅلی مرګ ورکوي.

ـ مورې یوه خبر درته وکم؟

ـ یوه نه دوه خو لا وکه!

ـ مورې زه غواړم که د ستاسو اجازه وې، زه هم... .

ـ زویه په خبر د پوه شوم، زما له خوا درته اجازه ده، الله تعالی به د ستا په سر موږ هم جنت ته بوځي،

ـ خو پام زویه!

ټمبلې به نه کوئ!

کوشش به کوئ!

اول خط کې به جنګیږي او که خبره شوم ، چې بېغیر له ضرورته چې په شا تللی وې، زه د خپلې شیدې نه دربښم، هو دا زما وصیت ده درته زویه!

ـ سمه ده، مورې، ان شاالله زه به په اول خط کې به جنکیږم، او که د هر وخت دې واریده، چې زوی دې سستي کړې ده، نو ما ته د خپلې شیدې مه رابښه.

وقاص له ځان سره سوچ یې وکړ، خو اخر یې فیصله وکړه، چې د عمر پر ځای ودریږي او جهاد ته ادامه ورکړي، وقاص د عمر مشر ته ورغی، له سلام او کلام څخه وروسته د عمر د شهادت او د کارنامو خبرې یې کولې، خالد د چای یو غړپ وکړ او بالښت ته یې تکیه وکړه، وقاص ته یې وکتل، ورته یې وویل:

عمر ماسره په مخابره کې خبرې کولې، ویل یې:

نوره پوسته ختمه ده، لږ نور زور پرې راوړئ!

نوره قیصه ختمه ده، ما ورته وویل:

سمه ده، همالته کېنه له ځایه مه ښوره، موږ ته راپور راکوه!

عمر وویل: سمه ده، یو ساعت باد زنګ درته وهم.

یو ساعت تېر شو، دوه ساعته تېر شول، خو احوال یې معلوم نه شو، ما غوښتل چې ورشم، حالت ډېر خراب وو، خو اخر د الله په نصرت پوسته فتحه شوه.

ـ شوندې یې وخوځولې، خالد ته یې وویل:

ډېر ښه هغه پوسته ډېره خطر ناکه وه.

ـ هووله، په هر صورت، اول چې د عمر ځای ته چې ورغلم، د سهار اذانونه شوې نه وه، ورورسېدم، چې سترکې مې په ولګیدلې، خدای خبر چې څومره مې په زوره چغه کړې وي، چې ورننږدې شوم، سترګې یې خلاصې وې، دغه د راسه لاس ګوته یې اسمان ته نیولې وه.

خالد د چای غړپ وکړ، خولي ته د چای شمه ورغله، هغه یې بېرته په لاس ایسته کړه، د واسکټ جیب ته لاس کړ او یو دسمال یې راوویست، دسمال لږ په وینو ؤ، خالد دسمال خلاص کړ، یو جوړ تسپې په سرو وینو په کې ایښې وې، تسپې یې ورواړاندې کړې، وقاص تسپې را واخستې، په خپل مخ یې وسولولې او بیا یې ښکل کړې، له سترګو نه یې عینکې لرې کړې، روانې اوښکې یې پاکې کړې، تسپې یې بېرته کېښودې، خالد ته یې وکتل، خالد په فکر کې ؤ، غږ یې پرې وکړ خالده! خالده!

خالد هماسې په فکر کې ؤ، وقاص بیا پرې غږ کړ او ورته یې وویل:

زه بیعت ته راغلی یم او غواړم د عمر پر ځای ودرېږم، د خپل د دین د ساتلو په خاطر جهاد وکړم.

ـ خالد ډېر خوشحاله شو، وقاص سره یې بیعت وکړ، په خپل ګروپ کې یې ځای ورکړ، خالد د عمر توپک ورکړ او یوه چانټه یې هم ورکړه، وقاص د خوشحالي احساس کاوه، له خالد سره یې خدای پاماني وکړه، او د کوره په طرف روان شو، وقاص له ځان سره ویل:

زه اوس پوه شوم، چې د ژوند خوند په جهاد کې دی، ما تنها توپک اوږې ته کړ، زړه مې سکون وموند، خدای خبر کفارو او د هغوی

له غلامانو سر جنګ به څومره خوند کوي او دا بازۍ خلک عجیبه نه دی!

د زړه سکون د ژوند خوښۍ خوشحالۍ په پیسو مال دولت کې لټوي.

هی! هی! افسوس ! افسوس!

***

# د چاپې اوازه

شپې، ورځې تېرېدې، د اسمان زړه لا تس نه وه، غوښتل یې چې بیا د بانو نه اوښکې د باران په شکل یې توی کړي، کله به د شپې، کله به د ورځې به یو یو ساعت باران کېده.

وقاص په کور کې ؤ، کاهدانه(د وښوځای) کې ریشقه په ساتول میده کوله، چې د موټرسایکل غږ یې واوریده، وقاص پوه شو، چې زما ملګري دي، وقاص د کاهدانې له دروازې وتلی نه ؤ، چې د کلا زړه لرګینه دروازه وټکېده، وقاص په دسمال باندې کالي څنډل، چې بیا ورخطا ورخطا زړه لرګینه دروازه وټکېده، وقاص ورنارې کړې، درغلم د شله زامنو، ورغی له کړۍ نه یې ځنځیر لرې کړ، په تېزۍ سره راننوتل، له سلام او کلام څخه وروسته د مهمانخانې په طرف لاړل، وقاص د دېواله چولې ته لاس کړ، یوه کلي چې شین بند یې درلوده، له چولې څخه راواخیسته، دروازه یې خلاصه کړه، خطاب ته یې وویل:

ځئ تاسو کېنئ! زه به چای راوړم.

ـ نه چای مه راوړه، اول قیصه واوره!

ـ خیر ده اول به چای راوړم، بیا قیصه په وخوند وکړه.

ـ انډيواله! د خوند خبره نه ده.

ـ خير نو څه خبره ده، چې د خوند خبره نه ده!؟

خطاب غوښتل يې، چې خبري وکړي، ټوخی ورغی، ټوخي يې زور واخيست او د مخ رنګ يې سور شو، سترګې يې غټی غټی راووتلی، له څو لحظو څخه وروسته يې وويل:

د صفريک (01) قطعي څخه راپور راغلی، چې نن شپه چاپه ده، نو اماده اوسئ!

ـ وقاص: نن شپه چاپه ده؟

ـ خطاب: هو نن شپه هتمن ده.

په همدې وخت غږ شو، منډه يې کړه، وقاص ورسۍ خلاصه کړه، چې د درندې طيارې غږ ؤ، د طيارې غږ له شماله راپيدا شو، مخ په جنوب ورک شو.

وقاص ورسۍ بنده کړه، خطاب ته يې وويل:

ريښتيا هم نن شپه چاپه ده، طياره بې څه تېره نه شوه، وئ ريښتيا څه پلان مو نيولی؟

ـ خطاب: نور موږ نه پوهيږو، خالد ټول پلان نيولی دی، موږ ته يې وويل:

وقاص په موټرسايکل در سره زر راولئ! چې ناوخته نه شي.

ـ وقاص: سمه ده زه دا چانټه اوږې ته واچوم، خطابه! څنکه ده چانټه راسره ښه ښکاري.

ـ خطاب: هو ماشاالله د عمر چانټه وه.

ـ وقاص: هو الله د بخښې، د هماغه وه، خطابه! يو ځلی مې مور ته ورځم، بيا راځم.

ـ خطاب: سمه ده، زر کوه! چې ځنډ ونه کې.

وقاص خپلې مور ته ورغی او خپلی مور ته يې وويل: مورې ډېرې دوعاګانې راته کوه، مورې ډېرې بلاکانې راپسی دې، مورې نن شپه چاپه ده، تاسې ونه ډار شئ، خدای نکرده که جنګ شو تکاو ته ښکته شئ!

ـ ما ته وګوره زويه!

زوی چې مور ته وکتل، مور يې رانږدې شوه، خپل زوی يې په تندي ښکل کړ او ورته يې وويل:

زويه زما ارمان به هلته پوره شي، چې پر ما باندې ستا د شهادت زيری وشي.

ـ مورې! دا ارمان به دی الله تعالی هم پوره کړي، الله ته څه سخته ده!

په همدې وخت کې درب شول، وقاص چي شا ته وکتل، ګورې چې د پيشکې خوله کې مرغۍ نيولې وه، وقاص هر څه پيشتې پيشتې نارې کړې، پيشکه لاړه، د بېګاه خرچه ( ډوډۍ ) برابره کړه.

خطاب ته زنګ راغی، خطاب نمبر ته ونه کتل، دفتن تلفون يې غوږ ته ونيوه، زر يې سلام پرې واچوه، اسلام عليکم!

ـ وعليکم وسلام، څه شوی؟

ـ خالده ته يې!؟

ـ هو.

ولې زما نمبر درسره نه ؤ؟

ـ راسره ؤ،

ما نمبر ته ونه کتل، راسن مې غوږ ته ونیوه.

ـ ښه سمه ده،

زر کوئ! چې ناوخته نه شي.

ـ سمه ده، ان شاالله،

څه خو به په کار نه وي؟

ـ نه نه، تنها تاسې راشئ!

ـ سمه ده.

ـ فاتحه! وقاص ته وناريې کړه، چې تېز کوه، چې خالد هم زنګ وهلی ؤ.

ـ سمه ده، زه به ورناريې کړم،

ـ وقاصه!

لږ تېز کوه!

خالد زنګ وهلی ؤ، ویل یې:

زر راسئ!

ـ سمه ده.

وقاص له مور نه خدای پاماني واخیسته او حرکت یې وکړ، یو څو قدمونه چې واخستیل، چې د شا نه ژړاغونکی غږ یې واورېده، وقاص چې شا ته وکتل، چې مورې یې څاه (ګوهې) سره ولاړه وه، وقاص ورتاو شو، مور ته یې وویل:

موريِ څه خبره ده، وډاره شوې؟

ـ نه زويه!

هسې زړه مې درد وکړ، تا چې حرکت وکړ، زما زړه کې څړیکه وشوه، زویه! بیا هر څنکه نه شي، اولاد مې یې کنه.

ـ مورې منم چې اولاد شیرین وي، خو څنکه وکو، کفار مو په کراره مو نه پریږدي، کنه د مور په څنک کې ژوند د چا نه خوښیږي.

ـ ځه زویه! په الله مو سپارلی یې، هه دا ډوډۍ او دا اوبه در واخله، ډوډۍ په منځ لږ خایدک هم شته.

زوی د مور لاسونه ښکل (مچو) کړل، مورهم د خپل زوی ښکل (مچو) کړ، وقاص خدای پاماني له مور سره وکړه او ورنه روان شو.

وقاص د مهمانخانې په طرف لاړو، فاتح پرې غږ وکړ،

دومره ځنډ څوک کوي!

ـ خو ټولې شل دقیقې وتلې نه دي.

ـ خطاب د خبرو مینځ کې ځان خطا کړ، وویل یې:

دا خبرې بیا په کراره وکړئ!

اوس نا وخته ده،

وقاصه مخکې شه!

اوس هم ناوخته ده.

لس دقیقې باد د کلا دروازه وغنجېده، وقاص دوی له دروازي ووتل، خطاب موټرسایکل راتاو کړ، درې واړه په موټرسایکل لاړل، د ماښام لمونځ یې نا وخته مرکز ته ورساوو.

خالد په مرکز کې له ملګرو سره ناست وو، خالد په سر د سمال اچولی ؤ، کله کله به یې پزه کش کوله، له کش کولو سره به سرهم پورته کاوه، له دې څخه معلومېدل چې ژاړی، وقاص او ملګري ټول غلی غلی راغلل، خاموشه کېناستېدل، خالد له یو څو ثانیو څخه وروسته دسمال له سر نه لرې کړ او لاسونه د دعا په شکل په خپل مخ راکش کړل، یو سوړ اوسېلی وایست، پزه یې کش کړه، له ملګرو سره یې روغبړ وکړ، ټول ملګري د دایرې په شکل ناست وو.

خالد په داسې حال کې خبرې شروع کړې، چې ټول ورته غوږ نیولی وو، ویل یې:

نن شپه چاپه ده، ټول خو خبر یاستئ کنه؟

ګورئ! ملګرو دا چاپې له پخوا نه شروع شوې دي،

په حضرت محمد(ص) باندې هم چاپه وهل شوې ده، کله چې حضرت محمد ص له مکي نه مدینې ته هجرت کاوه، کفارو کور د شپې له طرف نه محاصره کړی وو.

ملګرو دا قصې شته، غم یې مه کوئ، ما ته وګورئ!

غوږ مو نیولی دی، نور به په دوه ډلو بیل شو، خطاب، فاتح او دغه نور څلور نفره دا د وقاص سره لاړ شئ!

هدایت، یاسر زما سر لاړ شئ!

سر مو خلاص شو.

وای ریښتیا!

هغه فيکا چې دېواله ته ايبنې ده، هغه وقاصه ته واخله.

ملګرو ډېر احتياط به کوئ!

او چې ما امر کړی نه وي، بې ځايه حرکت به نه کوئ!

خالد په دعا باندې مجلس ختم کړ، ټولو يو بل سره خدای پاماني وکړې او يو بل ته يې ښښنې يې وکړې، نور سره په دوه ګروپونو بيل شول.

***

## چاپه راغله

شپې نهه بجې وې، ارامه ارامې وه، کله کله به دې چونګښې اواز به له ويالې له غاړې پورته کېده، بق بق داسې اواز به يې کاوه،

چرچرګ هم له چونګښې کم نه ؤ، ځای به معلوم نه ؤ، خو د څرڅر غږ به تر غوږو کېده،

سپوږمۍ خپله رڼا د غرو په لمنه اواره کړې وه، په ځنګله کې هم د سپوږمۍ د رڼا شغلې د چنارو له مينځه سيخې سيخې راوتلې وې،

موږ په ځنګله کې ناست وو،

وقاص وويل:

چوپ شئ!

ـ څه خبره ده؟

ـ د درندې طيارې غږ نه دی!؟

ـ نه درنده شته او نه بنګنه.

ـ فاتح وویل:

وقاص ریښتیا وایې.

په همدې وخت کې درنده طیاره له دوی له سره تېره شوه، وقاص وویل:

ځانونه اماده کړئ!

چانټې مو اوږو ته پورته کړئ!

د سرویزو بوټو بندونه کش کړئ!

بغېر زما له امره څوک باید ډز ونه کړي!

زر کوئ ملګرو!

درب شول، سپي منډه کړه.

په همدې وخت کې دوچرخه راغلې، د دوچرخې غږ.و ټوله قریه یې په لرزه کړه، د ونو څانکې ښکته ښکته زور کاوه، عمر خوړلې زېړې پاڼې له ونو څخه رالوېدې؛ یوه دوچرخه کېناستېدله او بلې دوه دورې وکړې، هغه هم کیناستېدله، لس دقېقې وروسته ډممممم شول،

فاتح وویل: خدایه خیر د چا دروازه یې والوزوله، په همدې ترتیب سره په نیم ساعت کې پنځه، شپږ ځایه غرررززوغروزز شول، پاو لا تېر نه ؤ، چې په ونو باندې د برق تېزې رڼاګانې تاو راتاو شوې.

درب شو، له ځایه جیک شو، له شا نه یو غږ وړپسې وشو، go go fast go، کو کو فسټ کو.

موږ د جوارو پټي کې وو، د پټې د پولې په سر دوه نفره و درېدل، یو له قد نه جیک او یو ټیټ معلومېده، یو بل سره په انګلیسی خبرې یې کولې، یو نفر چې موږ ته یې شا وه، د پتلانه جیب ته لاس کړ،

له جیب نه یې اوږد شی راوویست، سر یې خلاص کړ، غاړه یې جیکه کړه، مخ یې اسمان ته کړ، اوبه په خوله کې خالي کړې، موږ خوا ته را وار کړ، زما د چپې پښې پونډۍ باندې بوتل ولګېده، ما د ډار احساس وکړ، غوښتل مې د ډار عکس العمل وښیم، خو ځان مې قابو کړ.

له د ځای نه یې حرکت وکړ، په لامده پټي کې زغرده قدمونه د لیوني سخوندر په شکل واخیستل،

اې ته به یې ونه منې!

زموږ سر پورې ولاړ وو، موږ یې ونه لېدو، د خدای ساتنه وه.

په همدې وخت کې درب شول، پښه یې د لښتې له پول نه خطا شوه، پړ مخې ولوېده، اوچته جیک شو، ګوډ ګوډ قدمونه زموږ په طرف را واخیستل، له ځان سره یې ویل:

دوی دې تبا شي، پیدا مو نه کړل زما پښه را زوبله کړه، جیب ته یې لاس کړ، له جیب نه یې خالي لاس راوویست، بېرته ورتاو شو، کوم ځای کې چې لوېدلی ؤ، پیدا یې نه کړ، بېرته راغی، له ځان سره یې وویل: تلفون مې شاید له زوی سره پاتې وي.

دا خبرې ټولې اورېدې، سر لږ پورته کړ، چې ګوري،

یو نفر په خپله پښه باندې چنګاو ده.

ځان یې حملې ته برابر کړ، غوښتل یې چې دا نفر ژوندی ونیسي، په دې وخت کې د منډې غږ یې تر غوږو شو، وقاص ځان غلی کړ.

دوه نفر راغلل، یوه ورته په ننګرهارۍ لهجه وویل:

پخه د ولې؟

ـ هلته ولوېدم.

ـ چېر ته؟

ـ هلته په لښتي کې.

ـ خه تا سترګې نه درلودې؟

ـ غلی شو.

ـ تلفون د ولی خاموش(ګل) ده،

ـ هغه مې شايد زوی سره وي!

ـ تېز کوه ماموره!

وخت نور پوره ده.

ـ ځئ تاسې لاړ شئ!

زه په کراره د غسې لنډ کور ته ځم.

ـ هه! دا درواخله، بيا يې په کور کې حساب کړه،

ـ سمه ده، څومره دي؟

ـ دوه زره ډالره، فعاليت د کم شوی دی، مخکې غوندې فعاليت نه کوې، زه خير پروا نه کوي، ته خو زموږ ورور يې، بيا کوشش وکړه، بيا کوشش وکړه، مامور يې په شا يې وټپاوه او ورته مسکی شو، مامور هم ورته مسکی شو،

وای ريښتيا ته 012 صفر دولس ګروپ کې يې، که 011 صفر يوولس؟

ـ زه (012) کې يم.

ـ ډېر ښه، بل سبا بيا زه نفر درلېږم، يوه هغه خبردرکوي، بيا راځه!

قومندانۍ ته.

ـ سمه ده، څه په خاطر؟

ـ د امريکا نه کوم يو غټ کس راځي، نور يې څه کوې!

جيب په د ډک شي.

ـ ريښتيا وايې!

د سر په ښورولو ځواب ورکړ:

هو زه ريښتيا وايم.

وقاص ټول حالت په خپلو سترګو ولېده، هر څه يې په غوږو يې واورېده، خو تور نقابي يې ونه پيژانده،

مخابره کې غږ شو، امريکايې هم يو څه ورته وويل،

امريکايې مخابره سينې سره کېښوده، د خپل ترجمان ته يې په انګليسي وويل:

ځئ چې ځو!

ترجمان تور نقابې ته وويل:

زموږ وخت نور پوره شو، موږ لاړو، تور نقابي ورته کتل، هغوی مخ پر دو چرخه منډې وهلې پاو تېر نه ؤ، چې دو چرخه ببرته لاړې، وقاص غوښتل چې تورنقابي ونسي، وقاص او ملګري يې د جوارو له پټي راووتل، هرې خو اته يې وکتل، تور نقابي يې پېدا نه کړ.

منډه يې کړه، لاسي برق يې چلانده کړ، کوم ځای کې چې تور نقابي لوېدلی ؤ، هلته ودرېده شاوخوا يې برق واچوه، په چمن کې سپين شی پېداکړ، راواخيست، شيشه يې په لمن پاکه کړه، د چلاندېدو تکمه

یې ووهله، یو دم رڼا په کې پیدا شوه، یوه لحظه باد د مامور عکس په صفحه باندې ښکاره شو، په تلفون کې پنځوس فیصده چارچ وه، مامور زموږ د کلي ښه لمونځ ګزاره سړی! الله الله

وقاص نور ثبوت پیدا کړ، چې چاپه چا راوستلې وه.

په فضا کې د الله اکبر ناره شو، یو سپین ږیري اذان کاوه، وقاص او ملګرې یې د اودسه لپاره اوبه پیدا کولې، فاتح ورته وویل:

تیاره ده، خو د اوبو غږ له هغه ځای نه راځي، ټول لاړل  اودسونه یې وکړل.

خطاب، وقاص ته وویل:

مشره! ډېر وږی یم، هغه ډوډۍ دې څه کړه؟

فاتح ورناړې کړې، هغه ما سره ده.

ـ خیر، دلته یې راوړه!

ـ درغلم.

ټړل شوی دسمال غوټه خلاص کړه، ټولو له اوبو سره ډوډۍ وخوړه، وروسته د جومات په طرف لاړل، د جماعت لمونځ چې خلاص شو، د ټولو کلیوالو سترګې د خوشحالۍ نه ډکې وې او شکرونه یې د الله تعالی ادا کول، شکر خدایه څوک خو شهیدان شوي نه دي، ټولو سپین ږیرو له وقاص نه پوښتنې کولې:

ـ څنکه وه شپه په خیر وه،

وقاص چې ډېر ستړی ؤ، د سر په ښورولو به یې ځواب ورکاوه،

د ماموروپه لاس کې غټې لرګینې تسپې نیولې وې، یو تسپه به چې په بله تسپه ولږېده، ترس ترس اواز به پورته کېده ی، مامور راغی، د وقاص په اوږه لاس کېښود، په نرمه لهجه یې وویل:

قارې صاحب! شکر خدایه چې جوړ یاستی، بېګاه مې زړه درته ډېر نارامه ؤ، ما ویل چې موږ په بسترو کې نه ټینګېږو، د طالبانو به څه حال وي.
هیڅ غږ یې ورته ونه کړ، وقاص پوه ؤ، چې بېګاه شپه تور نقابي همدا مامور ؤ، مامور مسکی کېده، وقاص ته یې کتل، وقاص هېڅ ورته ونه کتل، نور یې سر یې خم ونیوه، له جوماتَ نه ګوډ ګوډ ووته؛ وقاص د کلی سپین ږېرو سره هغو کورونو ته لاړل، چې بېګاه چاپه ورغلی وه، اول د وقاص کور ته لاړل ، وقاص مخکې ؤ او د کلي سپین ږېري ورپسی وو، وقاص له خپلې دروازې څخه تېر شو، یو سپین ږېري ورغږ کړ، اې!

دا د دروازه، وقاص چې شا ته وکتل، په سترګو یې توره شپه شوه، چې دقیق دقیق دروازې ته یې وکتل ، ډېر خپه شو، دروازه له چوکاټه وتلی وه، او کاګلونه په مخ پر ځمکه پراته وه، چرګانې هم په شنه سهار له ماتې دروازې نه راوتلې وې، دروازه په مینځ کې سورئ وه، نه یې د قلف ځای معلوم ؤ، نه یې دستګیر ځای خو ښخی معلوم نه وه، ګډه وډه وه

کور ته داخل شو، نارې کړې، مورې مورې! غږ یې وانورېده، چې په د وخت کې ژړا غږونه یې وارېده، مورې مورې!

وقاص ورمنډه کړه، د کوټې دروازه یې خلاصه کړه، په مور یې سترګې ولږېدې، د خوشحالۍ ساه یې وایسته او د خپل په زړه یې لاس کېښود شکر یې ادا کړ، په کرار کرار ورغی،

لاس یې وخځاوه، نرۍ د اوړي کمپله له سره یې لرې کړه،

چغه یې کړه، نااااا،

د مور په خوله باندې سپین ځګ پروت وه،

ورخطا شو،

زر یې په قالینه لاس کېښوده، قالینه لمده وه،

نرم یې لاس له قالینې نه راجیک کړ، چې یې ورته وکتل، شکر یې ادا کړ، شکر خدایه وینه خو نه وه، زر یې چپ طرف ته وکتل، ګوري چې د اوبو جک چپه شوی دی.

د مور خوله یې خلاصه شوه، بېرته پټه شوه

وقاص خوشحاله شو، زر د مور سینه یې په زوره پچق کړه.

مورې یو دم و ټوخل

وقاص شکر ادا کړ، شکر خدایه چې مور مې ژوندۍ ده.

مور یې ښه چې په حال راغله، زوی یې ورنه پوښتنه وکړه؟

- مورې د شپې ورنه ډار شوې!؟

- نه زویه.

- اول ځنکه راغلل!؟

مور یې د خپل زړه باندې لاس کېښود، لنده ساه یې واخیسته، زوی ته یې وکتل، زوی یې دوه سترګې مور ته نېولې وې، قیصه یې شروع کړه:

دوچرخه چې راغلی، جای نماز مې ټول کړ، په ماشومانو باندې مې کمپله هواره کړه، دروازه مې خلاصه کړه، یو لس دقیقې دباندې وم،

کراره کراري وه، تنها د چرچرک او د سپي اواز اورېدل کېده، زر کوټې ته ننوتلم، د پښنو دربهارى مې واورېده، له ورسی نه مې دوه سترګې وچې دروازې ته نېولى وې، چې یو دم یوه غېږه اور کلا ته راننوت.

ـ ښه مورې نور څه وشول!

ـ اول اور کلا ته راننوت، بیا وروسته ډم شول، سره رڼا د ګوټې په دېوالو ولګېدې، ماشومان وډار شول، اوچته په ځایو کې کېناستېدل، چغې یې شروع کړې، یو دم دروازه خلاصه شوه، غږ یې وکړ ونه ډار شئ!

ـ ما ورته وویل: زړه مو بووټ را ووایست او وایې چې ونه ډارشئ!

فکر کوم جلال ابادی ؤ.

ـ ویل یې: خیر ده، خیر ده، مه ډارېږئ!

ـ ښه مورې نور یې څه ویل!؟

ـ نور یې ویل:

طالبان چېر ته دي؟

ـ ما ورته وویل: هغه تاسو ته په کور کې کېني، لاړ شئ!

ځنګلونه، غرونه، ورپسې وګورئ! چې سابه مو در په مالګه ګړي.

ـ هههه، مورې ښه ځواب د ورکړی.

ـ هغه راته ویل: هغوی چې په غرونو کې دي، تاسې یې چا ته پرېښودلي یاستئ!

ـ ما ورته وویل: خیر تاسې خپل تورسرې چا ته پریښې دي؟

نور غلی شو

له کوټې دباندې ووته

ما هم دباندې وکتل

یوه نارې کړې

د باندې تر سهاره مه راوځئ!

طیاره مو ونه ولي.

ـ ما ورته وویل: قواره مو خاورې شه، نه دې ورځې ښوک درنه په کراره دې، نه د شپې.

لاړه مه اودس مې وکړ، دوه رکعته لمونځ مې ادا کړ، دعا مې کوله، یو دم مې زړه په درد شو، غوښتل مې اوبه وڅښم، لاس مې وتپاوه، شوږړ شو، جګ چپه شو، سترګو ته مې ته کېدې، نور په ځان پوه شوې نه وم.

# جا سوس ونیول شو

د ماښام لمونځونه قضا ؤ، دوه موټرسایکلونو باندې څلور نفره سپاره وو، یوې دروازې ته ودرېدل، دروازه یې وټکوله، د کور د ننه طرف نه د لاسي برق د رڼا شغلې د دروازې له درزونونه د باندې راوتلې او رڼا کرار کرار رانږدې کېده، چې غږ یې وکړ:

ـ څوک یې؟

ـ د دروازې له طرف نه ور غږ شو، ماموره دروازه خلاصه کړه!

چې څوک مو ونه وینی.

ـ مامور بیا ورته وویل: څوک یې ځان معرفي کړه؟ دروازه خلاصول اسانه دي.

ـ زه ځان درته معرفی کولای نه شم، سبا دوه بجې قومندانۍ کې غونډه ده ورشه! ۰۱۲ صفر دولس لخوا خپلو کسانو ته کمک ده او $ 1500هم ورکوي او زه لاړم.

ترس شو، مامور په تېزۍ سره دروازه خلاصه کړه، په ګوډه ګوډه پښه یې رامنډې کړې، ښه چې له کور نه شل متره لرې شو، د دېواله له کونج نه درې نفره پرې راغلل، مامور چې چا پسې ډېر اوازونه یې وکړل، هغه هم راتاو شو، مامور ډېر خوشحاله شو او له ځان سره یې ویل:

شکور خدایه چې راتاو شو، چې له شا نه چا په د سر وواهه او ولوېده، لاسونه یې ورته والچک کړل، یو ساعت پس په مرکز کې بې هوښه پروت ؤ، په موترسایکلو باندې نفر ببړته لاړل، د مامور په کور کې غم وو، ښځه یې پوه وه، چې مېړه مې څه کاره ده، خو غږ یې چا ته نه کاوه، زامنو یې له مور نه پوښتنه وکړه؟

مورې پلار مې چېر ته تللی ده!؟

ـ مور یې ورته وویل: زویه پلار د ایران ته تللی، تا ته موټرک توپ راوړې، ښه زویه!

ـ سمه ده مورې.

شپه تېره شوه، لمر راوخو اته، نیمه دنیا یې رڼا کړه، خړ ګردونه پورته شول، له خان ګل ماما نه غوا خوشې شوې وه، غوا مخکې خان ګل ماما ورپسې، اخر مورږ ورسره ګیر کړه، ډېره مسته غوا وه، له مورږ څخه یې مننه وکړه، ویل یې:

که تاسې نه وای، ولکه ما تر ماښامه ګیر کړې وای، الله مو وساته.

لاړو مرکز ته ورسېدو، وار له وار نه د مامور خونې ته وکتل،لکه د لېوني غوندې تاوېده را تاوېده، تا به ویل، لکه چې ستنې یې خوړلې دي، داسې تا وېده راتاویده، دروازه خلاصه شوه، مامور ورخطا شو، څوک یاستئ؟ تاسیی څوک یاست!؟

دغو دوه نفرو خپلې تنبوزکې لرې کړې.

ـ مامور وویل: ږقاصه ته!

ـ وقاص وویل: هو زه او ته!

ـ نور مامور غلی شو، بیا ژړاغونکی غږ وویل:

خیر دی ما خوشي کړئ!

زه اولادونه لرم، زه ککور، للرمم.

ـ وقاص خبره ورته ونیوله او ورته یې په قهرجنه لهجه وویل:

پرون شپه د چاپه راوستلې وه، پنځه، شپږ کورونه دې بې دروازو کړل، شیشې مو ورته ماتې کړې، فصلونه مو ورته خراب کړل، کاشکې د خانانو کورونه وای، ټول د غریبانانو کورونه دي، هغوی د سبا او بېګاه نه لري، دروازه به څنکه جوړه کړي، شیښې به څنکه واخلي، شیرګل څه لري!؟

پنځه کاله کیږي، زوی ته یې کوژده کړې ده، خو تر اوسه واده یې ورته نه د کړی، هغه په مچي توپ څومره پیسې وګټي، ټولې دروازې مو ورته ماتې کړې، شیشې خو خیر نه یې درلودې، پلاستیکونه یې ورسې ته نیولي وه، هغه یې هم ورته شکولي وه، ته نه شرمېدې!؟

ـ مامور ورته وويل:

دا خبرې ولې ما ته کوئ؟

زه نو څه خبر يم.

ـ وقاص ورته وويل:

پايڅه د جيګه کړه؟

مامور چې پايڅه جيګه کړه.

وقاص ورته وويل:

دا زخم د څه شي ده؟

ـ مامور ورته غلی شو.

ـ وقاص بيا ورته وويل:

تلفون د زوی سره ؤ، کنه!

مامور لرزه وخوړه، بېرته يې ځان سم کړ، په شونډو باندې د ژبې تېره څوکه تېره کړه، ويل يې:

هو هغه مې ... نور غلی شو، ځکه جواب ورسره نه ؤ،

ـ هغه مې څنکه؟

ـ مامور يو دم وويل: هو هغه مې زوی سره ؤ.

مامور داسې فکر کاوه راځه په د خبره ځان ورنه خلاص کړه.

جيب ته يې لاس کړ، تلفون يې راووايست، ترپ شول، د مامور مخې ته يې تلفون خطا کړ.

مامور رنګ سور شو په تندي يې خوله راماته شوه، يو ځلې به يې تلفون ته کتل، يو ځلې وقاص ته.

له لرې لرې به د غوا لمباړه کېده، امممممباععع.

ـ خطاب وويل: دا غوا لکه چې د خان ګل ماما ده.

ـ شايد خطابه د خان ګل ماما غوندې ناري خو وهي.

ـ دواړو وخندل: ههههه، په خندا کې يې وويل:

لکه چې غوا وايي خان ګل ماما ما ته واښه راوړه، هههههه.

وقاص وويل: ښه بله پوښتنه:

ـ ترجمان څو ډالر درکړل؟

ـ مامور وويل: چا ته!

ـ ما ته، خير نو چا ته.

د مامور مخ سور شو، سور شو، پزه يې غونجه کړه، ساه يې په مرئ کې بنده کړه، يو دم يې وويل:

تاسې خاينين ياستئ!

ـ هو موږ خاينين ياستو، ځکه تا غوندې خاين مونيولی دی.

د تحقيقاتو په دوام کې يو دم د خطاب جيب لړزه وخوړه، ورخطا يې جيب ته لاس کړ، له جيب څخه يو تلفون راوويست چې په درې کشکو تړل شوی ؤ، خطاب زنګ اوکې کاوه، د اوکې بټنې کار نه کاوه، پنځو ځلو اوکې کولو څخه وروسته يې کار وکړ.

***

خالد، خطاب ته وويل:

د وقاص مخابره کار نه کوي، هغه ته وو‌ایه چې وروور د له کابل نه یوه کیلو د پسه غوښه رالیږلې، په سپینه نود سراچه کې نمبر پلیټ یې (۴۲۶۷) هرات، د شا سیټ کې مینځ کس ته چې تور یې کالي دي، ږیره یې خریلې ده، غټ غټ بریتونه دي او سپلور بوټونه یې په پښو دي، هماغه سره ده، یو ساعت پس درسیږي.

خطاب، وقاص ته وویل:

خالد ویل چې وروور دې له کابل نه یو کیلو د پسه غوښه.

ـ وقاص وویل: ماسره راځه.

ـ خطاب ورته وویل ته خو خبره پوره واوره.

ـ وقاص وویل: زه پوهیږم.

ـ سمه ده چې ته پوهیږې، خو دا خاین څنکه کوې؟

ـ ته دروازه ورپسی قلفه کړه!

ـ سمه ده، خطاب دروازه قلفه کړه، مامورچغې وهلې.

وقاص او خطاب په موترسایکل باندې لاړل، عمومي سرک ته او هلته یې انتظار د پسه دغوښې کاوه.

ـ خطاب پوښتنه وکړه تا د غوښې په سر باندې تحقیقات پریښودل.

ـ  وقاص وویل: ته نه پوهیږې.

ـ خطاب: وګوره هغې پوستي ته موږ ښکارو!

ـ وقاص: ته خو نیم ساعت انتظار وکړه، څه رقم موټر ؤ؟

ـ خطاب: سپینه نوود سراچه، لکه چې! نمبر پلیټ یې (۴۲۶۷ ) ده، هو! هو ! همدا نمبر پلیټ ده.

ـ وقاص: سمه ده هغه دی راغی، وګوره!

ـ خطاب: شاید هماغه وي.

موټر رانږدې شو، خطاب موټر ته اشاره وکړه، موټر ودرېده، له ټایرونه خړ ګردونه جیک شو، خطاب ورغی،

موټر وان شیشه ټیټه کړه،

خطاب له مخې سپږ نه، شا سپږ ته وکتل،

تور بریتو ته وویل برادر! (کسی بری تو کشت ګوسفند نداده)؟

ـ نی.

ـ وقاصه! دته خو چا غوښه نه د ورکړې.

ـ را ښکته یې کړه!

ـ ښکته شه!

ـ نه راښکته کیږي.

ـ درغلم.

راغی بریتو له مټو ونیوو، را کش یې کړ، پښه یې د موټر په دروازه کې ونښتله، لاندې ولوېده، په ځنک کې د پاپړو پاکټونه په هوا وځرخېدل، سپېره دوړه له ځمکې پورته شوه.

موټروان ته یې وویل:

درځه وروه!

موټروان حرکت وکړ، د موټر له سلنګسر نه شین دود وخوته، لاړو.

ـ وقاص، خطاب ته وویل:

موټرسایکل راتاو کړه!

خطاب ځان سره وویل:

د یوې کیلو غوښې په سر بېچاره یې والچک کړ. موټرسایکل یې رېز یې ورګړ، او راتاو یې کړ، درې واړه په موټرسایکل سپاره شول، مرکز ته یې بریتو ورساوه، په مرکز کې بریتو له مامور سره یو ځای کړ.

ـ وقاص وویل:

ـ څنکه د پسه غوښه؟

ـ کومه ده؟

ـ ولې دا اوس دې چې راوسته.

ـ دا بریتو.

ـ هو.

ـ نو تو خدای دې، دا غوښه ده!

ـ هو نو.

ـ هغه څنکه!؟

ـ مسکی شو، ګوره خطابه نن د سر خلاص کړه!

کله چې چا زنګ درته وکړ، په شفرو سر خلاصوه،

ـ خطاب: څنکه سر خلاص ګړم!؟

ـ وقاص: خیر غوړ ونیسه!

شاهین په کابل کې اوسېږي کنه؟

ـ هو.

ـ د هغه څه وظیفه ده؟

ـ هغه! د اډې منشې ده.

ـ هغه دغه کس راولیږه، دا کس اربکی دی، دا اربکی په رخصتۍ کور ته تللی ؤ، اوس چې وظیفې ته راته شاهین دا کس تعقیب کړی ؤ، هغه چې خالد ته زنګ وواهه، چې یوه کیلو غوښه مې در ولیږله، د غوښې معنا (اربکی) دی، پوه شوې.

ـ هو اوس پوه شوم.

یا مثلا درته وایې، اوړه مې در ولیږل، په فلانکې موټر کې فلانکې سره دي، ته باید پوه شې، چې مطلب څه ده.

ـ خطاب: امممممم اوس مې بیخي سر خلاص شو!

دا د دې په خاطر استخبارات یې کشف نه کړي، د شبکې په واسطه.

ـ وقاص: یاره اوس پوه شوی.

***

مامور او اربکی د مرکز په زندان کې وو، د دواړو لاسونه تړل شوي وو، په زندان کې خدای نا ترسه مچ هم ؤ، دا مضره مچ به دوی په عذابول، کله به یې په سر کېناستېدل، کله به یې په خوله باندې، مامور په عذاب شو، او له ځان سره یې وویل:

دا دې بیا راسي!

خو مچ بیا راغی، مامور یې وځوراوه، مامور نور طاقت ونه کړ، له ځایه جیک شو، د اتاق له یوه کونج نه د پکې په شکل څرخ یې شروع کړ، کشي کشې به یې وویل، له کشي کشي سره به یې له

خولې نه نارې بادېدې، اخر مچ هم مجبور شو، د پنجره دارې ورسۍ نه ووت، مامور هم سترې شو، د زړه په زور سره یې وویل:

دوی مچان هم تربیه کړي دي، ته ورته وګوره!

ـ اربکي ورته وویل: بیا بیشی!

ـ مامور دسترګو له کونجو ورته وکتل بیا یې خپلې مخې ته وکتل.

ـ از کجا هستی؟

ـ مه از منطقی خپل.

ـ ازمنطقی خپل چي مانا

ـ تو پښتو پوهېدل نمی تانی.

ـ اربکی: کم کم می فهمیم.

ـ ما خو ما کم کم فارسی ویلی میتانیم، برو خیر دواړه زبان دو روشته می کونیم .

اربکی له طالبانو دومره ډېر ډارېده، چې معمولې غږ به یې وارېده، ورخطا به شو، پنجره داري ورسۍ ته به یې وکتل؛ د مرکز پیره دار قیصه ما ته کوله ویل یې:

یوه ورځ د سهار پنځه بجې وي، انور ماما د ریشقې رېبدلو لپاره راوان ؤ، لور یې په لاس کې ؤ، ما ته یې نارې کړي، خوارزاده !

ـ کومه غټه تیږه دغلته نشته چې دا لور تیره کمه.

ـ ما ورته وویل: هو شته دغه ده تیږه، ښه لور تېره کولو ته کار ورکوي.

ـ درغلم خوارزاده.

انور ماما راغی، بسم الله یې وویل:

تیرې ته یې لور واچوه، په تېرو کولو ته شروع وکړه، چې یو دم چغه شوه، د مرکز دروازه مې خلاصه، چې ګورم اربکي د خپل سر په دواړو لاسو کې نیولی ؤ، همدا کلمه یې ویله:

ما نکش مانکش.

ـ کی تو می کوشه.

ـ آنامو.

ـ کی؟

ـ او ملا صاحب.

ـ کدام ملا صاحب؟

ـ آنمو کی داس(لور چې وانښه ریبل کیږي) تېز می کند.

ـ خدا تورا هدایت کند، او به خاطر کاه داس تېز می کند، میره ریشقه درو(رېبدل) می کند.

ـ قاری صاحب راست می کی.

ـ آ راست میګیم

په دا پوچو سترګو ، زما زړه د نا رامه کړ، مالی خیر مار وچیچه، داسې یې چغه کړه.

نور د اربکی او مامور ښه ساعت تېر وو، خپل مینځ کې به یې ښې خوږې خبرې کولې، بدبختي دا وه، چې شین چای له کوړې سره نه ؤ، خیر په هرصورت، دواړو ښه پخه وروري شروع کړې وه، دوی خپل مینځ کې خبرې کولې، چې د موټرسایکل غږ شو، دا د فه دواړه ورخطا شول، د مخ رنګونه یې سره واوښتل، داسې غلي

شول، لکه په اور چې اوبه توی سي، د موټرسایکل غږ به نړدې کېده ، د دوی زړونه به لرزېده، په همدې وخت کې د زنځېر شرنګو شرونګ شو.

ـ وقاص داخل ته راغی، وقاص خبرې شروع کړې نه وې، چې مامور وار لومړی کړ.

ـ قاری صاحب څنکه سسسو کار؟

ـ وقاص سر ورته وښوراوه، او ورته یې وویل:

ستا کار پاتې خاینه.

ـ وقاص فاتح ته اشاره وکړه.

ـ فاتح په اشاره پوه شو، اربکی یې له مټې ونېوه، د تحقیقاتو خونې ته یې بوته.

***

# د تحقیقاتو پړاو

خطابه! په خبرو خبرو له بازار را ورسېدو، هه! اوس خو ته یې واخله؟

سمه ده راکړه! پیرداره! یو چاړه خو د تحقیقاتو خونې ته راوړه!

ـ سمه ده.

غټه که وړه؟

ـ غټه.

خطابه ته اربکی راوله، د تحقیقاتو خونې ته!

ـ سمه ده.

شړنګ شو، د دروازې ځنځير خلاص شو، اربکی ورخطا شو.

ـ ورته په لاس اشاره وکړه، اوچته راجيک شو، مامور ته يې وکتل، مامور په لاس اشاره وکړه، يعنې حلالوي دي.

د اربکي سترګې رډې رډې را ووتلې، کله چې دې تحقيقاتو خونې ته لاړه، وقاص چاړه د دسمال په څنډه پاکوله، د پيازو بوی يې کاوه، چې ورته يې وکتل، بې هوښه شو، د دروازې مخ کې ولوېده، شل دقيقې پس په هوښ راغی، منډه يې کړه، همدا يې ويل: ما نکش ما نکش، دواړو يو بل ته وکتل، حيرانه شول، خطاب لاس ته يې اشاره وکړه، وقاص چې لاس ته وکتل، ګورې چې په لاس کې يې چاړه ده، په خندا شو، چاړه يې هندوانې سره خطا کړه، اربکې ته يې اشاره وکړه، اربکی بيا هم نږدې نه راته، هندوانه يې وروښودله، پس له دې راغی.

اسلام عليکم خوب هستی، صحت شما خوب است، از خانه احوال داری کراري وه،

ـ شکر.

ـ چرا می ترسی؟

ـ نمی ترسم.

ـ خو! خو!

اسم تو چيست؟

ـ اربکی وويل: نامی مه سيدحسين ميرزا.

ـ از کدام ولايت هستی؟

ـ مه از بامیان.

ـ چند کال این وظیفه کولی کردي؟

ـ مه چهار سال.

ـ چند کال عمر داری؟

ـ بیست چهار (۲۴)

ـ خطاب وخندل وقاصه دا څه رقم فارسی وایی؟

ـ وقاص: ته خو پرېږده یاره!

وقاص بېرته اربکي ته مخ واړوه، اربکې خپل دتندی په لستوني پاک کاوه، پوښتنه یې ورنه وکړه.

ـ خو سیدحسین معاش کی بری تو درکوي؟

ـ معاش سیاف میته.

ـ چند معاش درکوی؟

ـ هشت هزار(۸۰۰۰).

ـ وقاص نورې ډېرې پوښتنې وکړې، هغه هم ټول ځوابونه ورته وویل.

له خندا شین ؤ، دسمال څنډه یې خوله کې نېولی ؤ، وقاص چې ورته وکتل، په خندا شو، دواړو خندل، اربکي حیرانه حیرانه ورته کتل.

وقاص خطاب ته په سترګو کې اشاره وکړه!

خطاب په اشاره پوه شو، اربکی له منې ونېوه، خپل اتاق ته یې بوته او مامور د تحقیقاتو خونې ته راواسته، وقاص له مامور نه تحقیقات شروع کړل.

خطاب ببرته اربکي ته راغی، اربکي ته ښه ډوډۍ او شیدې ورکړې، خطاب دومره ناز ورکړ، لکه مور چې ماشوم ناز ورکوې، اربکی ناست له خطاب سره ؤ، خو ذهن یې په بله دنیا کې ؤ، پښتانه یوه متل لري، وایې چې: ناست یم له تا سره، زړه مې په کندو کې ده، نور به یې نه وایم بده ده... . نور نو خپله پوه شئ!

اربکي سمدستي په ډوډۍ خوړلو باندې شروع وکړه، ښه چې موړ شو، له طالب نه یې مننه وکړه، له ځان سره یې وویل:

دوی څومره ښه خلک دي، د تحقیقاتو په وخت کې یې سګنجې را نه کړې، ډوډۍ یې ښه پوره راکړه، موږ څومره ظالمان وو، هغه په هغې ورځ طالب مو چې ونیوه، د تحقیقاتو په وخت څومره سګنجې مو ورکړې، یو خو سکنجې وې، خو موږ بې ځایه سګنجې ورکولې، ډوډۍ مو نه ورکوله، په حقه خو دوی دي، موږ په ناحقه یو.

درب شو، له لاس نه یې د شیدو ډکه پیاله ولوېده، زر یې خطاب ته وکتل، خطاب ورته مسکی شو، اربکی هم مسکی شو.

وقاص له مامور نه تحقیقات شروع کړل، مامور سر خم نیولی ؤ، وقاص ورته وویل:

- پورته وګوره!

مامور پورته وکتل، ورته یې وویل:

- ښه ماموره زموږ د کلي لمونځ ګزاره، تقواداره، ولي دې داسې وکړل!

مامور ورته په ژړا شو.

ـ ژاړه مه، خالي حال ووايه، خلاص نور، نه د وهو، نه سکنجې درکوو، نور نو څه غواړې.

مامور له ستوني نارې تېرې کړې، په کنداسه خوله يې ټول اقرار وکړ.

وقاص ورته وويل: نور څه خبره نه شته زه لاړ شه ډوډۍ وخوره!

د مامور قدر يې هم زيات وکړ، خو مامور هېڅ خوشحاله نه ؤ.

څو ورځې تېرې شوې، وقاص خالد ته د تحقيقاتو ټولې خبرې وکړې.

ـ خالد وويل: ډېر ښه، زه خو وايم، اوس اربکی خوشې کړو، توبه به پې وباسو، څنکه د خوښه ده؟

ـ وقاص: سمه ده.

ـ ورسه اوس اربکی دلته راولئ!

وقاص او خطاب په موټرسايکل باندې لاړل، ډممم شول، له ځمکې خړ ګردونه جيک شول، دواړه له موټرسايکل نه ولوېده، خلکو را منده کړه، ګڼه ګوڼه جوړه شوه، خو اخر معلومه شوه د موټرسايکل ټاير چوېدلی دی؛ لږ ځنډ وروسته پياده د مرکز په لور حرکت وکړ، اربکی يې له زندان څخه راوسته او خالد ته يې حاضر کړ، د اربکي په سترګو کې دا د فه ډار نه وه، ځکه پوه ؤ، چې څه راته نه وايې، خالد له اربکي سره ښه اخلاق وکړل، اخر يې ورته په فارسي وويل:

په يوه شرط د خوشي کوم، چې توبه به باسئ!

ـ اربکی: به چشم قاری صاحب

اربکي توبه ووایستله، خالد پنځه سوه افغانۍ د جیب خرچه ورکړه، اربکی دومره خوشحاله ؤ، چې دومره خوشحالي به په ژوند کې لېدلی نه ؤ، ټولو سره یې خدای پاماني یې وکړه.

ـ خالد غوښتل مامور هم معاف کړي، وقاص ته یې وکتل، حېرانه شو، ورته یې وویل:

دا مخ د ولې!؟

ـ هېڅ لږ ژوبل شو.

ـ چېرته؟

ـ هلته موټرسایکل ټایر وچوېده.

ـ زه ښه ؤ، چې خطر په خیر ؤ،

بیا یې وویل:

مامور به هم معاف کړو.

ـ ډېر ښه خبره ده، خو اول به ضمانت ورنه واخلو.

ـ سمه ده، هغه بېګاه ته راولئ، زموږ مهمان خانې ته!

وقاص او خطاب حرکت کاوه، خو خالد پرې نه ښودل، امر یې وکړ! هدایت او یاسر ولېږئ!

تاسې لږ استراحت وکړئ!

ـ وقاص هدایت سره رابطه وکړه، ورته یې وویل: مامور له مرکز نه خالد دوی کره راولئ!

ـ سمه ده، هدایت او یاسر په موټرسایکل باندې مامور پسې ورغلل، ماښام ناوخته بېرته د خالد دوی کور ته را روان وو، له هدایت نه موټرسایکل بې واکه شو، یاسر ورغږ کړو:

اسکلېټر پرېږده! اسکلېټر پرېږده!

اسکلېټر کار ونه کړ، راسن یې په غټه تیږه ورواسته، درې واړه لرې لرې وار شول، هدایت او یاسر زیات زوبل شول، د هدایت لاسونه، پښې زوبلې وې، د یاسر سر او نس زوبل وو، د مامورلاسونه زیات زوبل وو، او فکر کوم یوه پښه یې لکه چې زوبله وه.

مامور په اشووېش له خاورو څخه راجیک شو، د هدایت دوی په طرف را روان ؤ، چې ولوېده، پښه یې د موټرسایکل دوشاخه کې ونښتله، پړ مخې ولوېده، د مخې غاښ یې مات شو، اوچته جیک شو، د هدایت دوی په طرف ورغی.

چې یو غږ یې تر غوږو شو، څوک یې یو غړپ اوبه خو راکه؟

مامور ورته وکتل، څه ورته ښکاره نه شوه، بیا یې سترګې وسولولې، ښه چې ورته ځیر شو، چې یو نفر پړ مخې پروت دی، او سلګۍ وهې، مامور ورغی، د یاسر سر ته ودرېده، وی توبه خدایه! د هدایت سر ته ودرېده، خپله پښه یې د هدایت په اوږه کېښوده او ټېله یې کړ، هدایت یو ملاق وخوړه، دوهم ملاق هم په شک کې ؤ، مامور بېرته ونیو.

ـ هدایت: په ارامه لهجه وویل: یو غړپ اوبه راکه؟

ـ مامور: تاسې ما وژنی او زه تاسو ته اوبه درکړم،

اې طالبه چپ طرف ته وګوره! هغه دې اوبه، خو قسم که يو غړپ درته راوړم.

ـ هدايت: تا نه وژنو، که ته مو وژلی، مخکې مو وژلې، هدايت په خوله کې لږ ناړې را پېدا کړې، له مرۍ نه يې ښکته کړې، بيا يې وويل:

سهار مو اربکی هم خوشې کړ، اوس خالد امر کړی، چې تا هم خوشې کړو.

ـ مامور: زه يې نه منم.

ـ هدايت په دردمن غږ وويل: اخ! ګوره مأموره، زه ريښتيا درته وايم.

مامورله ځان سره فکر وکړ او وويل:

راځه! له موقعې څخه استفاده وکړه، دواړه همدلته مړه کړه، بيا وتښته، مامور همداسې وکړل، د هدايت له چانټې نه برچه راواخيسته، اول يې هدايت بيا يې ياسر په شهادت ورسول.

خالد دوی په مهمان خانه کې ناست ؤ او وقاص په نوکيا ((NOKIE تلفون کې مار ګيم کاوه، چې خالد ورباندې غږ وکړ، هدايت دوی ډېره ناوخته کړه، ته ورسه ورپسې! که ښه شوی يې!

وقاص تلفون د واسکټ جيب کې واچوه، له پښو نه يې دسمال لرې کړاو په اوږو يې راتاو کړ، د ورسۍ پرده يې کش کړه، اسمان ته يې وکاته، په اسمان کې ستورې ځلېده، خالد ته وويل:

زه به زر ورپسې ورشم، نور ماسختن شو.

ـ هو تېز ورپسې ورشه!

ـ سمه ده،

ـ موټرسایکل د جوړ شوی ده؟

ـ نه هغه مستري سره ده.

زنګ راغی، ورته یې وکتل، نا معلومه شمېره وه، وقاص لرزه وخوړه، د مخ رنګ یې سور شو، خالد ته یې وویل:

زه به زنګ ته جواب ورکړم.

ـ سمه ده.

ـ سلام!

ـ وعلیکم وسلام، قارې صاحب ښه یې جوړ یې؟

ـ شکر ده،

څوک شوې؟

زه مستري یم.

ـ ښه، ښه یې جوړ یې، څنګه شو موټرسایکل؟

ـ موټرسایکل جوړ شوی دی، زه مستري خانه قلف کوم، موټرسایکل درولم او کنه!

ـ هو رایوله.

ـ چیرته؟

ـ خالد دوی کره.

ـ سمه ده.

لس دقیقې پس د موټرسایکل غږ شو، وقاص ورغی.

مستري ورته وویل: تېل په کې کم دي، زما هم له یاده وواته.

ـ زه خیر

ډوډۍ نه خورې!

ـ مننه.

وقاص، خالد ته وویل:

په موټرسایکل کې تیل هم کم دي، خو ځه خیر رسوې مې.

ـ که تیل کم وي لاندې تکاو ته ښکته شه!

په بوشکه کې تیل دي، له هغې نه تیل واخله، ګوره ډېر وانخلې، هغه مې دادا واټرپمپ ته راوړي دي، کنه بیا په دادا باندې زدن راکوې.

ـ هههههه زه ډېر تیل اخلم، مه کوه چې دادا دې زدن درکړي، شه زه لاړم، اوس خو دومره تیل شته، مرکز ته پرې لاړ شم.

ـ خو بیا زر راځه!

ـ سمه ده.

وقاص، هدایت دوی پسې ورغی، په موټرسایکل روان ؤ، چې د موټرسایکل مخې ته سپي منډه کړه، وقاص یو دم موټرسایکل بریک کړ، چې چپ طرف ته یې وکتل، ورخطا شو، په تېزۍ سره موټرسایکل یې ستنج کړ، هغه ځای ته ورغی، چې موټرسایکل په تیره سرچپه پروت ؤ، له ټانکۍ نه یې تیل روان وو، وقاص په ځېر ځېر موټرسایکل ته وکاته، چغه یې کړه، دا خو د هدایت موټرسایکل دی، منډه یې کړه، هغه ځای ته چې د سلګو مړ اواز پورته کېده، چې ګوري یاسر په وینو کې لت پت پروت دی او سلګۍ وهي، د

یاسر سر یې په خپل زنګون کېښود، خالد ته یې زنګ وکړ، زر راشه!

ـ یاسر په بنده بنده ژبه وقاص ته وویل: مامور مامور.

ـ مامورڅه وکړل.

ـ موټرسایکل له هدایت نه بې واکه شو، خطا شو، خو.

ـ خو څنګه؟

ـ مامور، هدایت په شهادت ورساوه، زه یې هم نس نس کې په برچه ووهلم.

په دې وخت کې خالد هم راورسېده، خالد چې یاسر ته وکتل، یاسر ورته مسکی شو، په زوره یې کلیمه وویله او سترګې یې پټې کړې.

وقاص چغه کړه، نااااااااااااااااااااااا.

دا د نااا نارې د کلي نږدې ټول خلک را خبر کړل.

خالد سترګو ته ګلدوزي دسمال ونېو، په ژړه غونکې غږ یې وقاص ته وویل: تاته یاسر څه وویل؟

ـ وقاص د شهید یاسر خبرې ټولې په ژړا کې خالد ته وکړې او ورته وویل:

دا کار مامور کړی دی.

ـ خالد په قهرجنه لهجه وویل: مامور دا کار کړی دی، دا خاین څه شو؟

زموږ نیت ګوره!

او د ده ګوره!

وقاص نږدې شاوخوا مامور ولټاوه، خو پیدا یې نه کړ، په همدې لحظه کې خالد، وقاص ته وویل:

دا دي د وینو خطونه، مامور داسې تللی دی، مخ په جنوب، هه! دا برق واخله، دغه د وینو خطونه تعقیب کړه!

وقاص همداسې وکړل، خطونه یې تعقیب کړل، په لنډ وخت کې یې مامور پیدا کړ.

***

هدایت او یاسر د شهادت ورځ خدای مې دې غاړې نه بندوې فکر کوم! د دوشنبې ورځ وه، هو! هو! همدا ورځ وه، لس بجې وې، چې شهیدان یې خاورو ته وسپاره، ای ته به یې ونه منې، د هدایت پلار خپل زوی پسې یو کارونه وکړل، توبه! توبه! توبه!، هغه صحنه چې ما ولېده، ما ولېده، زما تقریبا عمر پنځه څلویښت کاله ده، خو داسې صحنه ما لېدلی نه وه؛ درې څلور دفې خو بې هوښه شو، ډاکټرالیاس ته دې خدای خیر ورکړي، هغه له دواخانې نه د فشار ګولۍ یو سېرون راووړ، کنه! د هدایت د پلار کار خراب ؤ، ما ویل داسې نه شي، چې پلار یې هم ورپسې ورشي؛ په خلکو کې دا اوازه وه، چې موټرسایکل یې خطا کړی دی، چا به ویل: چې ښه شوي ولې تېز یې چلاوه، احتیاط کړی به یې وو، رقم رقم نظریې موجودې وې، خلکو ته واقعیت معلوم ؤ، خو حقیقت معلوم نه ؤ، حقیقت خو مامور، خالد او وقاص ته معلوم ؤ، پخوانی مولوي صاحب بیا تقریر ته جیک شو، دا دفه د شهادت په باره کې ِغږېده. زما اوس کم کم یادېږي، چې له حمد ثنا څخه وروسته یې وویل:

ګرانو مسلمانانو ورونو!

الله تعالی د عمر شهادت قبول کړي، ما په هغې ورځ د جهاد په باره کې وضاحت وکړ، اوس غواړم، چې د شهادت د فضلیت په باره کې وضاحت کړم:

ورونړو! شهادت څه مرتبه لري!؟

الله (ج) په قرانکریم کې سورت العمران ۱۶۹ ایت کې فرمایلی: ولاتحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتا ط بل احیاء عند ربهم یرزقون. ترجمه:

هغه کسان چې د الله په لار کې ووژل شي په هغوی د مړو ګمان مه کوئ! بلکې هغوی ژوندي دي او الله په نزد رزق ورکول کیږي.

ګرانو ورونړو! شهیدان مړه نه دي، شهیدان ژوندي دي.

رسول (ص) فرمایی: د حدیث شریف ژباړه: « هیڅ جنتی په دا نه خوښوي، چې بېرته دنیا ته راوګرزي او چه شی چې په مخ د ځمکې دي دا ټول د ده وي، پرته له شهید چې هغه دا غواړي چې بېرته دنیا ته راوګرزي، او لس ځله د الله(ج) په لار کې ووژل شي، دغه فضلیت الله تعالی شهید ته ورکړی دی.

ـ عبدالله بن مسعود(رض) وویل:

چې موږ د دې ایت په هکله له رسول (ص) وپوښتل رسول (ص) و فرمایل: «د هغوئ ارواح ګانې به د زرغونو مرغانو په جوجورو کې وي، د دوی د اوسېدلو لپاره به په عرش پورې ځوړندې (ځالی) د څراغونو په شکل کې وي، د جنت په هر ځای کې چې یې زړه غواړي هلته تلای شي(منظره به کوي) او بېرته به هغو څراغونو(ځالو) ته راګرځي او یو ځلي به د دوی پروردګار ورته ښکاره شي او ورته به ووایي: چې تاسې څه شئ غواړئ؟ هغوی به ووایي، موږ به نور څه وغواړو؟ په داسې حال کې چې د جنت په

کوم ځای کې چې زموږ زړه غواړي ګرزیدای شو، الله (ج) به دوی ته درې ځلې دوی سره دا سوال جواب وکړي، کله چې دوی پوه شي، چې بې غوښتلو د کوم شي نه پریښودل کیږي، نو دوی به ووایي: اې الله (ج) موږ دا غواړو چې زموږ ارواح ګانې بېرته د موږ جسدو کې دننه باسې، د دې لپاره چې موږ د تا په لار کې یو ځل بیا ووژل شو، کله چې دا ښکاره شي چې دوی څه شي ته ضرورت نه لري، پرېښودل به شي، الله(ج) لا مخکې په هر څه عالم دی، خو له دې سوال جواب سره خپله د هغوی له خولې دا خبره راوزي چې دوی حاجت نه لري».

مولوي صاحب وویل: هغه بدنۍ راکه! ستونی مې وچ شو، یو ببرسري ماشوم بدنۍ ورکړه، مولوي په درې دمو اوبه وڅښلې، شکور یې ادا کړ، بدنۍ یې د شناختې سره کېښوده، په تازه غږ سره وویل: ګرانو ورونو! دښمن په دې ځوانانو باندې کوشش کوي، چې ځوانان له اصلي هدف څخه غافل وساتي، له مختلفو وسایلو څخه کار اخلي، خصوصا له میډیا څخه کار اخلي، راډیو، تلویزون، انټرنیټ، اخبار مجلې اوداسې نور ...

نن تاسې وګورئ! په افغانستان کې په هر ولایت کې په هره ولسوالۍ کې یوه د ایف ام 32 راډیو یې ورته جوړه کړې ده، ورونو د څه په خاطر یې ورته جوړه کړې ده، ځکه کفاروته پته ده، چې د افغانستان خلک غیرتې دي، دوی له الله پرته بل چا ته سجده نه کوي، ولې بل چا ته سجدې نه کوي؟ د دوی په زړه کې اسلام دی، په دماغ کې یې اسلام دی، په هر رګ کې د اسلام وینه چلیږي، نو راځئ! چې له زړونو نه یې د دماغونو نه یې اسلام وباسو، له دماغونه اسلام وتل سخت دي ، که د توپک په زور باسو، خو نه ویستل کیږي، لا د هغو اسلام ( ایمان) نورهم کلک کیږي، نو راځئ! له بلې طریقې

ځخه کار واخلو، له یوه طرف نه به یې ځوروو او بل طرف نه به یې دروغو وعدې ورکوو، دا د دروغو وعدې له مډیا له لارې ښه اسانه دي: له راډیو، تلویزون، انټرنیټ، اخبار، مجلې، نه او داسې نورو طریقو ځخه به کار اخلو، زهرجنې تبصرې، فاحش ناولونه، موسیقۍ، ډرامې او داسې نور په مډیا کې خپروي، تر ځو دا ځوانه طبقه عیاشي او فحاشي سره وروزل شي... .

دا ځوانان چې په عیاشي، فحاشي وروزو، نوره خبره خلاصه ده، نور امت مسلمه به ضعیف شي، ځکه د یو ملت سرمایه ځوانان دي؛ په مجلس کې یو نفر چې د هدیرې تیرو(تخته سنګو) ته ډېره وهلې وه، له ځایه ونه ښوربده، په زوره نارې کړې، نارې تکبیر، الله اکبر، نارې تکبیر، الله اکبر، نارې تکبیر، الله اکبر، د افغانستان اسلامي امارت، زنده باد، مرګ په امریکا، مرګ، دا شعار چې خلاص شول، ټول حیران شول، چې دا غږ له کوم ځای نه پورته شو؟

یوه وویل: هغه سړي نارې تکبیر ویل.

ـ کوم؟

هغه تخته سنګو ته یې ډېره وهلې ده.

ورونو! نورې خبرې خلاصه کول غواړم، خبرې رانه ډېرې شوې، په هر صورت، ورونو! دغه قیصه به وکم نور خبرو ته خاتمه ورکوم؛ ورونو! کفارو مسلمانانو ته څه رقم راډیو جوړه کړې ده!

ایا خبر یاستئ؟

تاسو خپله هم به لېدلې وي!

هغه شنې راډیو نه دي، چې هیڅ بالتۍ (کارتوس) ته ضرورت نه لري، دا راډیو سولر(شمسۍ) لري، په شا کې یو رقم انډل لري، هغه چې تاو شي، راډیو چارج اخلي، هغه د دې په خاطر چې افغانان خو غریبانان خلک دي، په بالتۍ (کارتوس) پیسې ورنکړي، نو راځئ!

چې داسې راډیو ورته جوړه کړو، چې پیسو ته هیڅ ضرورت نه وي ، حتا کفارو زموږ د جیب غمه هم خوړلې ده.

دا زه په یقین سره وایم چې دا راډیو به سپین ږیري به جومات کې، زړې به په چوتره (صفه) کې، پېغلې به په تناره صوفه کې، ځوان خو ډېرې وظیفې لري، په دهقانۍ، دوکان دارۍ، موټروانۍ کې به یې غوږ ته نېولې وي، وروڼو!

دا راډیو تنها یوه سندره یا د دروغو تبصره یا زهرجنه ډرامه نیسي، دا د کفارو جالونه دي، پام کوئ مسلمانانو چې د هغوی د والګې لاندې رانسئ! نور مو وخت نه نیسم، الله تعالی د شهیدانو شهادتونه قبول کړي، الله تعالی د مجاهدینو زحمتونه قبول کړي، الله تعالی دې موږ ته د عمل کولو توفیق راکړي، و اخرو دعوانا ان الحمد الله رب العلمین.

وقاص او د هدایت پلار مولوي صاحب ته راغلل، د هدایت پلار مولوي صاحب ته وویل: د چهارشنبې په ورځ فاتحه او خیرات دي.

وقاص وویل: ټول باید هتمن راسئ!

چې د هدایت او یاسر قاتل خلکو ته معلوم کړو.

- قاتل تاسو ته معلوم دی!؟

- هو.

- ایا دوی موټرسایکل نه وو خطا کړئ!؟

ـ خطا کړئ یې و، اوس وخت کم دی، بیا زه ټوله قیصه تفصیل سره درته کوم، دغو ناستو خلکو ته اعلان وکړه، چې چهار شنبې ورځې ته هتمن راشي!

ـ سمه ده.

ګرانو ورونو!

د چهار شنبې په ورځ فاتحه او خیرات دي او ټول به هتمن راځئ!

چې د شهیدانو قاتل معلوم شي.

په خلکو کې هم شک پیدا شو، هر یوه کوشش کاوه، چې د قاتل په مسله ځان پوه کړي، خو ونه توانېدل.

په دغو دوه ورځو کې مامورد تحقیقاتو لاندې ؤ، خو حال یې نه وایه، د وهلو په زور د سکنجو په زور داسې ریښتیا یې وویل:

چې په ټول ژوند کې به یې ویلې نه وو.

وقاص له مامور نه پوښتنه وکړه؟

ـ وقاص وویل: اول خو دا ووایه012 څه رقم شفر دی؟

ـ دا شفر هغو ټولو جارسوسانو ته کارول کیږي، چې خاص امریکایانو ته کار کوي.

ـ تا څومره وخت جاسوسي کړې ده؟

ـ ما یو کال او دوه میاشتې.

ـ تا بېګاه شپه څوک شهیدان کړل؟

ـ غلی شو.

ـ ووایه، خبیثه!

ـ بیا غلی ؤ.

چې دا د پوندېځ غوښه یې ورته تاو کړه، په پلاس باندې، چغه یې کړه، وایمه یې وایمه یې، صبر!صبر!

ـ ما دوه نفره بېګاه په برچه ووهل.

ـ ایا نومونه یې پیژنې؟

ـ زه یې نومونه نه پېژنم.

ـ یو هدایت او بل یاسر نومېږي.

مامور له ځان سره نومونه یاد کړل.

ـ هدایت او یاسر، هدایتو، یاسر، سمه ده، زده مې شول، وی وی پښه مې!

***

د چهار شنبې ورځ راورسېده، نهه نېمې بجې پروګرام شروع شو، د ټولو خولو کې همدا کلیمه وه، قاتل به څوک وي!؟

دا چا به شهیدان کړي وي!؟

هرې خوا ته همدا اوازه تیت وه، ټول حیران وو، چې دا به چا شهیدان کړي وي!؟

له ډېر لرې لرې نه، واړه، زاړه خلک راغلي وو، ټولو انتظار کاوه، چې قاتل به څوک وي، خیر دا شیبې هم تېرې شوې، چې شمال له طرف نه څلور نفره راښکاره شول، خو پوزونه یې پټ وو، نه پیژاندل کېدل، یو نفر ورسره ؤ، چې توره خلته یې وراغوستې وه، مسجد ته راننوتل، ماشومانو شورماشور جوړ کړ، هغه دی قاتل یې راوسته، هغه دی قاتل یې راوسته، ټول خلک ورته متوجې شول؛

قاتل يې له اوږو نه دوه نفرو نېولی ؤ، د ستيج مخې ته ودرواه، ټول حيران وو، دا به څوک وي!؟

دا به څوک وې!؟

خالد د ستېج مخې ته راغی او کلا شنکوف يې په زغرده د ستېج څنګ کې کېښوده، مايک يې ځان ته جيک کړ، له حمد او ثنا څخه وروسته يې په قهر وويل:

دا څه چل ده، د سلو ډالرو په مقابل کې ځانونه خرڅوی، خلک وژنې

تاسې! خو داسې نه وې، تاسې د هغه چه اولاده ياستې، چې انکرېز، وروس ته مو ماته ورکړه، اوس بېغرته شوې!؟

اوس د کفارو د لاسو څراغونه جوړ شوي ياستې، کله چاپه راولې، کله يو کار کوئ، کله بل کار کوئ، دا څه حالت راروان دی!؟

ټول خلک چوپ پاتې وو، خالد د قاتل سر ته لاس کړ، ټولو خلکو دوه سترکې تورې خلتې ته نېولې وې ، اوس به يې لرې کوي!

اوس به يې لرې کوي!

توره خلته يې له سر نه لرې کړه، ټولو شورماشور جوړ کړ، خو چا باور نه کاوه، چې دا مامور دی، يوه په مجلس کې د طنز په شکل وويل:

د مامور صاحب زوی خو ويل:

پلار مې ايران ته تللی، وله ښه ؤ، چې مرز يې وخواړه، الله دې دا تباه کې په دې کار باندې.

خالد وویل: چاپه هم همده راوستلې وه او د هدایت او یاسر قاتل همدا دی، که د چا باور نه کیږي اوس خپله به اقرار وکړي، په زور د الله.

مامور په شرمنده مخ د ستیج مخې ته راغی، سترګې یې ښکته نېولې وې، ټول لرزېده، لکه برق ته دې چې ورکړی وي، په شرمېنده غږ یې وویل:

هو دا کار ما کړی دی، چاپه ما په دوه زره ډالر راوستلې وه، هدایت او یاسر ما شهیدان کړي دي.

ـ خالد ورته وویل: دا خبرې په تا خو به څوک په زوره نه کوي؟

ـ نه.

ـ هدایت او یاسر دې څنګه شهیدان کړل؟

ـ هغه، ما نوررر.

مامور نور غلی شو.

ـ خالد بیا ورته وویل: سم ووایه؟

ـ مامورقیصه شروع کړه:

اول خو زه به 012 د ګرو نفر یم. دا ګرو اصلا د امریکایانو ګرو ده، هغو پټو کسانو لپاره جوړه کړې ده، څوک چې نه غواړي په ښکاره له هغو سره کار وکړي، نو دا ګرو یې ورته جوړه کړې ده، ما خصوصا یو کالو دوه میاشتې په دې ګرو کې تېر کړل، چاپه ما راوستلې وه، هدایت او یاسر ما شهیدان کړل، هغوی اول زخمي وو، د زخمي کېدو قیصه خو دا وه، چې هدایت نه موټرسایکل بې واکه شو، په غټه تیږه یې ورواسته، چپه یې کړ، هغوی دواړه زیات

زخمیان وو او زه کم زخمي وم، ما له وخت نه استفاده وکړه د هدایت له چانتې نه مې برچه راخېسته، دواړه مې ووژل.

هدایت راته وویل: یو غړپ اوبه راکه ستونی مې وچ دی.

ـ ما ورته وویل: هغه دي اوبه قسم که یو غړپ درکم.

تاسې به وایې، چې مامور څنکه ټول حال بېغیر له کوم زحمته ووایه، دا چې ما ته کومې صحنې رایادېږي، چې کوم ظلمونه په مسلمانانو باندې زما له طرف نه شوې دي، هغه ما ته معلوم دي او څه چې زما په زړه تېرېږي، هغه تېرېږي، که تاسې ما ټوټه ټوټه کړئ، پروا نه کوي، دا د ستاسو حق دی، ما هم ډېر بې ګناه خلک ټوټه ټوټه کړي دي، تنها هدایت او یاسر نه دي، بس نور به څه ووایم، ما مړ کړئ!

چې الله تعالی ما سره د عمل کولو حساب وکړي، مامور چې ټول اقرار په خپله ژبه باندې وکړ، نو خالد رامخې ته شو او وویل:

اوس تاسی ووایې، د ده سزا څه شی ده؟

په مجلس کې شورماشور شروع شو، بازو به ویل:

اور ورته واچوئ!

بازو به ویل: له غره یې خطا کړئ!

رقم رقم نظریې وې.

خالد وویل: زه پوهېږم، چې څه وکړم، اول به ډوډۍ وخورو، مېلمانه له لرې ځایونو راغلي دي، بیا وروسته د ده کار هم وکړو، ډوډۍ هم تیاره وه، ټولو ډوډۍ وخوړه، لمونځونه یې وکړل، نور انتظار د خالد امر یې کاوه، چې خالد به څه امرکوي، درې بجې شاوخوا خالد امر وکړ!

قاتل د مسجد تر شا نورګل کاکا خاره ځمکې ته راولئ!

وقاص، مامور له متې ونیوه، خاره پټې ته یې بوته او مخامخ یې ودراوه، د مامور شا ته غټه پوله وه،

خالد د انتظامیه لپاره کسان هم تیا کلي وو.

ـ خالد، وقاص ته وویل: له خطاب نه هشتاد دو دو راواخله!

وقاص هشتاد دو دو له خطاب څخه راواخیست او خالد ته یې ورکړ.

ـ خالد ورته وویل: ته یې وولهٔ!

ـ وقاص له خدایه همدا ساعت غوښته، وقاص هشتاد دو دو ورته مخامخ کړ، چې دم شول مامور نور په ځمکه ښکاره نه شو، تنها د راسه پښې بوټ پاتې ؤ، په همدې وخت کې د نارې تکبیر نارې شوې، بیا هم د خلکو زړونه پې یخ نه وو، اې!

زه قسم په خدای خورم، داسې ما څوک ونه لیده چې ووایي کاشکې مړ یې نه کړي، ماشومانو، ځوانانو، سپین ږیرو، ټولو همدا ویل:

مړ یې کړئ!

مړ یې کړئ!

هېڅ زړه سوانده نفر مې په دغه ګڼه ګوڼه کې پیدا نه کړ، زما په څنګ کې یو سپین ږیري په ملا کوف، مخ یې غونجې کړې وې، په خپله امسا باندې زنه اېښې وه، هغه ویل:

باید په ژوندېنې پوستکی ترې وباسي، د ده خاین، اوس مې هم زړه په یخ نه دی.

ـ ما ورته وویل:

بابا ته یې څه کوي!؟

هغه له امسا نه زنه اېسته کړه، او ما ته يې وويل:

ـ زه به ښنکه نه وايم چې مه يې مړ کوه.

ـ بابا تا ته څه بد يې درسولي دي.

ـ نور نو بد څه رقم وي .

ـ ولې بابا.

ـ زما مسی يې شهيد کړ.

ـ کوم ؟

ـ ياسر.

ـ ياسر ستا مسی ؤ!

ـ هو ډېر راباندې ګران ؤ.

سپين ږيري بابا ډېر وژړل. زما په زړه کې چې خواخوږي وه، هغه هم له مينځ نه لاړه، کله چې د سپين ږيري ژړا مې ولېده،

ما پس له هغه ويل:

مړ يې کړئ دا خاين!

همدا يو جارسوس ؤ، په منطقه کې، که مامور يې وژلی نه وای، هغه نور ملګري هم له ځان سره پيدا کول.

# سره قطعه راورسېده

خالد، وقاص په کوټه کې ناست وو، چې خالد تلفون ته زنګ راغی، تلفون یې اوکې کړ، یو غږ یې واورېده، اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاتو!

ـ خالد: وعلیکم وسلام ورحمت الله وبرکاتو.

ـ و د پیژاندم؟

ـ یاره ولکه مې پیژاندلی یې!

ـ ته اوس موږ چېر ته پیژنې!؟

ـ وله نمبر د ما سره ثبت نه ؤ، ځکه د وپیژنم.

ـ اکرام الله یم.

ـ ښه، ښه، اکرام الله ځنکه یې صحت مبارک د ښه ده؟.

ـ شکر الحمدالله، د تاسو څه حال ده، ملګري ښه دي؟.

ـ الحمد الله ټول ښه دي.

ځنکه یې له وظیفې سره؟

ـ الحمدالله، ښه یاستو، له الله څخه راضې یو. ورځ تر بلې ځوانان په اعداد کې اضافه کیږي.

ـ ماشاالله، ماشاالله،

ـ د پنج شنبې په ورځ اتیا(۸۰) نفره فارغ شول،څلویښت نفرو تحریک مو هلمند ته ولیږه، شل نفره مو کندوز ته ولیږه او پاتې شل نفره دغې خوا ته درولیږو، ځنکه دې خوښه ده؟

ـ هيڅ کوم مشکل نشته، شل راليږي، پنځوس راليږي، راولېږه.

ـ ان شاالله درليږمه يې.

ـ څه وخت؟

ـ ياره دوه ورځې باد تحريک حرکت درکوي، انتظار يې وکړه!

ـ سمه ده، د تا خو به څه په کار نه وي، له دېخوا؟

ـ مننه مننه الله د ونازوه.

خالد تلفون قطعه کړ، د واسکټ د مخې جيب کې واچوو، په خلاص تندې وقاص ته وويل:

شل نفره نور هم په ګروپ کې اضافه شول.

ـ وقاص څنګه اضافه شول؟

ـ خالد: زنګ راوهلی ؤ.

ـ چا ؟

ـ اکرام د معسکر استاذ.

ـ جزاک الله، ډېر ښه، ډېر ښه، هغه خبره رېښتيا ده، چې د اسلام دين وينه غواړي، زموږ د ګروپ نه دوه د ګلاب، ګلونه د الله(ج) دربار ته په سرو وينولاړل، د هغو له ځای نه شل د ګلاب ګلونه نور راغلل، ( يعنی دوه نفره شهيدان شول، د خپله وينه يې د الله د رضا په خاطر توی کړه، د هغو له ځايه شل نفره نور راغلل، مثلا:

دا شل نفره وينه توی کړي، له شل نفرو له ځايه څلويښت نفره نور راځې، په همدې همدې کې دين ترقي (پرمختګ) کوي، يعنی په وينو باندې، په شهادتونو باندې د اسلام دين لوړېږي، داسې وخت

به راشي، چې افغانستان خو به فتحه وي وي، بیت المقدس به هم وې ان شاالله) همداسې نه ده، خالده!

- بلکل همداسې ده، یو ورځ به بیت المقدس به فتحه وي، خو موږ به شهیدان شوې یو، چېر ته د خاورو لاندې یو؛ هغه ورځ څومره خوندوره وي، څومره خوشحالي به وي، چې سپین بیرغونه، په کابل رپیږې، امریکایانو د هغو چاپېروسانو به شرمېند نکې ماته خوړلې وي.

- راځه الله د خیر کړي، الله تعالی داسې فتحه راولي، پروا نه کوي، که موږ یو او که نه یو زموږ نور امت مسلمه خو به داسې ورځ ووینې.

دروازه وټکېده، وقاص د ورسۍ پله یې خلاصه کړه، دروازه بیا وټکېده، ورسي پله یې بنده کړه، په خپل ځای کېناستېدو.

- خالد وویل: دروازه نه خلاصه وې؟

- نه موږ دروازه نه وه، د همسایه دروازه وه.

- ښه، مالې خیر زموږ وه،

خالد ښکته کتل، د کلا شنکوف چاغور له مرمیو ډکوه، چې سره یې پورته کړ، وقاص ته یې وکتل، وقاص په فکر کې ؤ.

غږ پرې وکړ، هماسې په فکر کې ؤ،د قالینې له سره راواخیسته راسن یې په د سر وویشت، وقاص خېز ګړل.

- خالد ورته وویل:

مه ډاریږه!

د مرمیو د کارتن ټوټه وه.

ـ نه زه ونه ډار شوم.

ـ نه خیر ونه ډار شوې، خیر خېز د ولې کړل؟

ـ کله مې خېز کړل؟

ـ سهې ده هههههه.

یوه لحظه ارامه ارامې وه، خالد له خولې نه مسواک لرې کړ، د چانټې جیب کې واچوه، په غړ نېولې غږ وویل:

زه غواړم، چې قطعه راورسېده، نو، دغه پوستي ټولې به فتحې کړو.

ـ نو دومره سلاح کله موږ لرو، چې جنګ په وکو، خدای خبر چې هغوی به ځان سره سلاح راوړي.

ـ ګوره وقاصه د بدر په جګړه کې مسلمانانو کله زیاته سلاح درلوده، مسلمانانو شمیر هم کم وو، (۳۱۳) تنه وو، د کفارو شمیر(۱۰۰۰) تنه وو، اوس ته ووایه ماته چا وخوړه؛ جنګ په اسلحه نه، جنګ په توپ، ټانک، طیاره، او په اټوم نه ګټل کیږي، جنګ په ایمانې جذبه کټل کیږی، سر د خلاص شو.

ـ وله ریښتیا هم.

ـ چې قطعه راورسېده د فتن حمله کوو.

ـ هو، ډېر خلکو ته مضاحمت کوي، خصوصا موټروانانو ته، د شپې موټر دروي، پیسې ورنه اخلي،

ـ بخښنه غواړم! خبر مې دې ونېوله، پرون یو ملګري قیصه کوله، وای زما د ښینې زوی ؤ، له سمنکانو نه مې مال (میږې، وزې) په موټر کې بار کړې وې، کابل ته روان ؤ، د شپې دولس بجې وې، چې د میدان ساحې ته راورسېدم، چې له پاسه یو چا د موټر شیشې

ته ليزر واچوه، واى ما يې پروا ونه كړه، هماسې مې خپله لار وهله، چې يو دم د موټر چراغو سره ګردو پورته شو، موټر مې جاى پر جاى بريک كړ، يو څو ثانې وتلې نه وې، درې نفره د موټر مخې ته وردريدل، غږ يې وكړ ، تا شو!

ماهم ان بربک مې كش كړ، له شترنګ جيک شوم، د خپل څادر مې راواخيست، په اوږه مې واچو، پوښتنه يې وكړه:

ـ از كجا امدى؟

ـ از سمنكان قومندان صاحب.

ـ چرا ناوخت ميرى؟

ـ قومندان صاحب، ناوخت شود، را خراب بود.

ـ كف نه زن، تو نمى فهمى ان حكومت كيست؟ سياف مشناسى، سياف؛ اين جه حكومت سياب است.

ـ خو سهيت قومندان صاحب.

ـ چى بار كردى؟

ـ مه مال قربانى.

فوځي بل فوځي ته نارې كړي، بيا دو دانه تا كو، خوب چاغ چاغ تا كو.

ـ قومندان صاحب!

اى مال مردم است.

ـ كف نزن،

حسن!

بیا ای تلاشی کو، خوب تلاشی کو.

یو نفر رامخکي شو زه یي تلاشي کړم، زما له جیب نه هر څه اخیستل ، خپل قومندان ته ورکول، په همدې وخت کې قومندان خولې ته د اور لمبه پورته کړه، سګرټ یې ولګوه، قومندان ؤ، کنه ؤ، خو ما له ډار قوندان ورته ویل؛ قومندان سکرټ نه دودونه جیک کړل، ما ته هم د خپل سکرټ رایاد شول، جیب ته مې وای لاس کړ، ګورم په جیب کې نه وه، ځان سره مې وویل:

زه په موټر کې به پاتې وي، اخر مې له سلو زړو نه یو زړه وکړ، غوښتل مې چې قومندان ته ووایم، یو سګرټ راکه، ومې نه شو کړای، اخر مې ترخې لاړې له مرۍ نه ښکته کړې، په بنده ژبه مې ورته وویل:

قومندان صاحب!

- چی می ګی؟

- یک سکرټ بتی؟

وای چې دا رابېرته یې که، سر مې د موټر بانټ سره ولګېده، سر مې ګرځېده، لږ چې په حال شوم، قومندان له څټه ونیولم ځان ته یې مخامخ کړم، راته ویل: مه از تو ګرفتیم، تو ازما پرسان می کونی؟

سګرټ نداری، سګرټ نداری.

وای زه پوه شوم چې زما سګرټ په تلاشی اخیستې دي.

وای چې رخصت یې کړم، موټر د وختلم، زړه مې وای داډه وه چې د دوکاندارانو پیسې په ټولبکس کې دي، چې ټولبکس مې خلاص کړ، پیسی نه شته، داسې وای تبیات مې خراب شو.

ما سره د د خلکو (۷۰۰۰۰) افغانی پسې وې، د دي لپاره راکړي وې، چې له کابل نه دوکانو ته مال ورته راوړم، مثلا: چاری، تبرجه، غېبل، کوټ، اوړه، ټول د دوکانو مال وو.

وای نور پوه نه شوم، چې تر کابله زه ځنکه لاړم، مال مې په کمپنۍ (نقاش) کې خرځ کړ، په سبا بېرته مې حرکت وکړ، وای زړه مې نارامه ؤ، چې د بازو بازو د مال مالکانو ته څه ځواب ووایم، ښه ؤ، الله تعالی د ټولو دوکاندارانو ته خیر ورکړي، ټولو پیسې راته معاف کړې، کنه ډېر به مې تاوان کړی ؤ.

ـ وقاص: وله واقعیت، د همدلته سمنکاني په شکل ډېر په عذاب دي، داسې ډېرې واقعی تېرې شوي دي، زه ښه ؤ، چې د ملګري د ښینې زوی ژوندی ترې وتلی، مال پسې د بلا وي، مال اخر پیدا کیږ.ي.

***

درې ورځې وروسته د شپې یوولس نېمې بجې قطعه راورسېده، خالد ورته انتظار کاو.

اکرام، خالد زنګ ته وواهه.

ـ اکرام: اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاتو!

ـ خالد: وعلیکم وسلام ورحمت الله وبرکاتو.

ـ ځنکه یې ملګري ښه دي؟

ـ الحمدالله، د تاسو څه حال ده.

ـ شکور الحمدالله، هغه.

ـ چې!

ـ سهار خو ما درته وویل: قطعه د شپې دولس بجې درسېږي، بیداره خو یې کنه؟

ـ زه اوس هم په انتظار کې یم.

ـ چېرته؟

ـ د کلي جومات سره.

ـ نه نه، هغوی وخته ماسره رابطه وکړه، ویل یې:

موږ د میدان ښار نه واوښتو، د جلریز په طرف روان یو.

ـ سمه ده، ته ډاډه اوسه یار!

ـ سیده نور څه خدمت یې؟

الله مو وساته، الله موکامیابه که.

ـ امین.

ـ خدای پامان.

ـ خدای پامان.

د شپې یوه بجه وه، خالد د کلي جومات سره د دېوال کونج ته ناست ؤ، خوب په زور شوی ؤ او هماسی دېوال تکیه یې کړې وه، چې له راسه او له چپ طرف نه سیورې پرې راتاو شول، یوه پرې غږ وکړ:

څوک یې؟

خالد ورخطا له خوب نه ویښ شو.

ـ بیا وایم: څوک یې؟

ـ خالد سترګې په لاسو وسولولی، یوه دقیقه وررسته ورته یې وویل:

صبر! زه خالد يم.

ـ دلته څه کوي؟

ـ زه د چا انتظار کوم.

ـ د چا؟

خالد خو له خوبه هم ؤ او ډارېده هم، ځکه څلور، پنځه نفره مصلح ورته ولاړ وو او د ده توپک دننه جومات کې ؤ، نو ورته يې وويل:

يو ملګري مې، د لرې ځای نه ميلمانه راليږلي دي، زه د هغو انتظار کوم، په د وخت کې د مصلحو نفر مشر راورسېده، خپلو نفرو ته يې وويل:

ـ څه خبره ده؟

ـ دغه نفر دلته مو ګير کړی، او وايی چې:

زما ملګري، يو څو ميلمانه راليږلي دي ، وای زه هغو انتظار کوم.

د مصلحو نفرو مشر وخندل او خالد ته يې وکتل، ورته يې وويل:

ته زموږ انتظار کوي؟

ـ هغه څنکه؟

ـ د تا ملګري چې تا ته ويلي ميلمانه مې درليږلي، د هغه نوم څه ده؟

خالد پوه شو، هغه کسان هم دوی دي.

ـ خالد وويل: اکرام نوميږي.

د مصلحو کسانو مشر په خندا شو، ورته يې وويل:

ته خالد يې؟

ـ هو زه خالد یم.

ـ هغه میلمانه موږ یو.

ـ خالد ورته وویل:

ولې اول مو نه ویل، زه مو ورخطا کړم.

د مصلحو کسانو مشر نوید نومیده.

یو بل ته یې غاړې ورکړې، له خندا شنه وو، درب شول، د خالد له لاسه تسپې ولوېدې.

ـ نوید وویل: زه پوه وم، ما ته اکرام لږ وخته زنګ کړی ؤ، هغه ما ته ویل، چې هغه د تاسو ته انتظار کوي.

ـ ما ورته وویل: نوم یې څه شی دی؟

ـ هغه وویل: نوم یې خالد ده.

ما ورته وویل: هغه ده، زموږ نفرو یو نفر نیولی ده، شاید هغه خالد وې.

اوس چې له تامې پوښتنه وکړه، تا ویل:

چې خالد یم، نو زه بیخې متمین شوم.

ـ خالد، نوید ته وویل: راځئ!

ـ نوید: چېر ته؟

ـ کور ته.

ـ سمه ده، ځئ!

شل نفره له خالد سره کور ته راغلل؛ ټولو غوښتل چې ویده شي، ځکه ډېر ستړي وو.

خالد هغوی خوب ته پرې نه ښودل، خالد ورته ویل:

اول ډوډۍ وخورئ!

بیا ویده شئ!

ـ نوید وویل: خالده! د شپې درې بجې دي، کور کې څه به وي، یا به نه وي، نیمه شپه ده.

ـ هی هی نویده! د پښتنو په کور کې چې هیڅ شی پیدا نه شي، شیدې، مستې، غوړي دا شیان خو ښه پریمانه وي.

ـ سمه ده، خیر ښه شیرروغن تیارکړه.

ـ سمه ده، نویده.

د خالد مور لس کاسې شیرروغن تیار کړ، د شیدو په سر دو کرته غوړي واچول.

خالد کاسې له وطنۍ ډوډۍ سره میلمنو ته ورووړې، میلمونو له زړه له اخلاصه ډوډۍ وخوړه ، ښه چې ماړه شول، نو سپیده په اسمان هم چوویدلې وه، ټولو د سهار لمونځونه وکړل، ویده شول تر لس بجو پورې.

د خالد مور لس بجې ښه پیرکي ورته پاخه کړل، له دوه ستلو تروو(شړمبو) سره.

په د وخت کې وقاص خطاب، فاتح راغلل، خالد وخندل او وویل: ریښتیا هم څوک د چا حق خوړی نه شي،

راځئ!

دغه څلور پیرکي اضافه دي.

کله چې دسترخوان ټول شو، وقاص دوی له ټولو سره سټري مشي وکړل، یو څو دقیقې مجلس څخه وروسته خالد خبره یاده کړه، ټولو وویل:

زموږ خوښه ده، خالد اول د خپل پلان بیان کړ.

ـ نوید ورته وویل: پلان د سم ده، خو څو پوستي دي، لري دي که نږدې دي؟

ـ خالد وویل: یو لحظه صبر وکړه! چې زه له جیب نه د نقشې ورقه راوباسم، دا څه شوه؟ دا د پیدا شوه.

خالد په یو ساعت کې نقشه ټولو ته تشریح کړه، په دې نقشه کې دووېشت پوستې وې، چې ټولې په یو طرف د سرک وي، له معلوماتو له مخې په هر پوسته کې دولس دولس کسه وو، په د مجلس کې هر یوه خپل خپل نظر ویل، د وقاص یو نظر دا ؤ، چې د مجلس راز د پټ وساتل شي، کنه دښمن به زر خبر شي، په اخر خالد وویل: زه ورځ به وټاکم بیا به دعا وکړم، ملګرو راتلونکي دوشنبې ته عملیات دي، نور به مجلس په دعا ختم کړو، خالد په داسې حال کې دعا ختمه کړه، چې د ټولو ږیري په اوښکو لمدې وي.

***

# فتحه

د دوشنې ورځ را ورسېده، ټول په جذبه کې وو، چې نن عملیات به ان شاالله تر سره کیږي، له سهار نه تر لس بجو پورې هیڅ قیصه نه وه، بازو به ویل:

کېداسي پس له غرمي عملیات شروع شي، خو پس له غرمي هیڅ خبره نه وه، ځینو مجاهیدنو به ویل: دا هسې دوکه ده.

رېښتیا هم دا د خالد جنګي چل ؤ، د دې په خاطر چې عملیات بخي پټ وساتل شي، کنه اصلی ورځ خو خالد او وقاص انتخاب کړې ؤ، هغه ورځ د جمعې ورځ وه.

خالد ټولو ملګرو باندې په مخابره کې غږ وکړ، ټول ملګري سره راټول شول د سین(دریا) پر غاړه، بغېر له وقاص او خطاب نه، خالد پوښتنه وکړه، وقاص او خطاب چېر ته دي؟

هیڅ چا ځواب ورنه کړ.

خالد جیب ته لاس کړ، تلفون را ووایست، وقاص ته زنګ وواهه، تلفون یې خاموش ؤ، خطاب ته یې زنګ وواهه، د هغه تلفون هم خاموش ؤ، ټول پریشانه وو، خالد وویل: هسې نه چې دوی هم چا شهیدان کړي وي، د یاسر، هدایت غوندې؛ په همدې وخت کې له لرې نه دوه نفره ښکاره شول، خالد نظر چې پرې ولګېده، د خوشحالۍ نښې په مخ ښکاره شوې، وویل:

هغه دي، وقاص دوی راغلل.

وقاص چې راغی مخکې له سلام نه یې وویل:

زما سره یو څو نفره لاړ شئ!

- خالد ورته وویل: چېر ته؟

- وقاص: دېرش دانې د هوان مرمۍ یو څو هشتا دو دو او یو څو راکټ دي.

- خالد: ماشا الله له کوم ځای د راوړې؟

ـ وقاص: یو ملګري له ماسر له مخکې وعده کړې وه.

ـ خالد: کوم؟

ـ وقاص: حاجي بادام ګل.

ـ خالد: ښه ښه، الله د صدقه ورته په خپل دربار کې قبوله منظوره کړي.

ټولو ملګرو وویل: امین.

ـ وقاص وویل:

حاجي بادام ګل خو مخکې تنظیم کې ډېر تکړه مجاهد ؤ، زما پلار کله کله د وروسان د وخت قیصې کوي، یوه ورځ د ژمې یخه شپه وه، ښه د وري «لاندي کتره» دیګ بخار ته کړی وو، موږ په توخانه کې د تیږي په سر ناست وو، کله کله په د ورسۍ په طرف کتل، موږ به فکر کاوه، تر سبا ان شاالله، نیم متر واره کیږي، خو په د شپې د لاندې غوښې بل رقم خوند یې وکړ، یو خو واوره ورېده، بل ښه کتره (لاندي) غوښه وه، او بل خو پلار مې د وروسانو د وخت قیصې کولې، پلار مې په اتو بجو قصه شروع کړه، تر دولس بجو، د حاجي بادام ګل د زړه ورتوب قیصه شروع کړه، ویل یې:

وای وروسانو قوه راغله، نو په دې وخت کې حاجي بادام ګل، تورګل او ذین الله، قوه محاصره کړه، نیم ساعت داسې جنګ یې وکړ، چې بخې له عقله وتلې خبر وه، ذین الله، تورګل په یوه مرچه (سنګر) کې ناست وو، حاجي بادام ګل په بله مورچه کې ناست ؤ، له نیم ساعت څخه وروسته د دوی ځای یې پیدا کړ، هماغه ځای یې په توپو ووایشته، په اخر ذین الله، تورګل شهیدان شول، بیا څوک له ډاره ورتلای نه شول، درې، څلور ورځې پس شهیدان له مرچې نه راښکته کړل.

- ښه پلاره! حاجي بادام ګل کاکا څنګه شو؟

هغه هم په حالت د منډه کې ؤ، چې څنګ کې د توپ ګولۍ (مرمۍ) ولګېده، توره دوړه له ځمکې جیګه شوه، بادام ګل تنها خپله چپه پښه له لاسه ورکړه، د الله ساتنه ځانته وي، په هسې حالت کې بادام ګل ژوندی ووت.

- وقاص زویه! دا پیاله له چایه ډکه کړه؟

- تور که شین چای نه؟

- تور چای واچوه.

- پیاله واخله! چې په کمپله باندې چپه نه شي.

پیاله یې واخیسته د خپلې تفدانې سره کېښوده، پلار مې ورسۍ خوا ته په تعجب! تعجب! کتل، شونډې یې وخوځېدې، وویل:

که داسې واوره تر سبا ووري، ان شاالله نیم متر هتمن وي؛ وقاصه زویه کاه دانې ته لاړ شه! راشفیلونه دهلیزه یا تندورخانې ته راوړه؟ چې سبا وخته له خیره بامونه وتوکو(جارو) یې کړو.

پلار مې د جیب نه د نسوارو قوتی را ووایست، اول یې د نسوارو د قوتې په شیشه کې خپل مخ وکتل، یوه لحظه باد چپه لاس یې هوار ونیوه. د نسوارو د قوتې په سرپوښ باندې یو کفه نسوار په ارغیوي کې واچول، چپ لاس یې خولې ته پورته کړ، مبارک نسوار یې د ژبې لاندې کړل، په بنده ژبه غږ کړ، د وقاص مورې! څنګه ده زه خو زوړ شوی خو نه یم؟

- نه نه ځوانه!

شل کلن ځوان یې، ته اوس هم د ځوانۍ خوبو نه وینې.

ـ ولې په ما څه شوي دي، تنها مې ږیره سپینه شوي ده، نور خو ماشاالله ځوان یم.

ـ مور مې د چای غړپ وکړ، پلار ته مې مور وویل: د وقاص پلاره څو کلن یې!؟

ـ زه؟

ـ هو ته؟

ـ زه یاره خدای مې د غاړه نه بندوي، دیرش به یم.

ـ ښیه دېرش! دېرش دې مشر زوی ده.

ـ که ته دېرش یې زه پنځلس یم.

په همدي همدي کې سره جنجال یې کاوه، ما ته هم خوب راغلی ؤ، چې درب شول ورخطا په ځای کې کېناستېدلم، سترګې مې چې خلاصې کړې، پلار مي په قهر ؤ، تا خو راشفیلونه له کاه دانې نه دې راوړي؟

ـ نه اوس یې راوړم، تېز کوه، ځان مې ښه اماده کړ، راشفیلونه له کاه دانې راوړل، نور راسن بام ته وختلم تر یوې بجې پورې مې بامونه له پلار سره تو ګل(جارو) کول.

ـ خالد: ښه ښه وله خوندوره قیصه د وکړه، دا راته ووایه حاجي بادام ګل خپله پښه د هماغه وخت له لاسه ورکړې ده؟

ـ وقاص: هو.

درز شول، زموږ څخه ښکته حاجي رحمت ګل په هلیو باندې د چرهیې ډز وکړ، یوه ګله هلیو نه دوه دانې ولګیدې، چرهیې په غاړه

کې واچوه، په منډه اوبو ته ورګډ شو، دوه هلیٰ له وزرو نیولې وې، د کور په طرف روان شو.

د شپې درې بجې وې، خالد زنګ وواهه، په اول ځل یې تلفون جیک نه کړ، بیا یې زنګ ورته وواهه، تلفون یې جیک کړ،

ـ سلام!

ـ وعلیکم وسلام.

ـ کیستی؟

ـ مه خالد هستم قومندان طالبا.

ـ چي امر!

ـ سیل کو! ببقو مه یک نصیحت دوستانه برای تو می کنم.

ـ خو بکو چې می ګویی؟

ـ مه می ګویم تسلیم شو!

ـ ته خو دیدی؟

ـ نی مه خو نه دیدم.

ـ مه دو روز وخت بری تومیتم، تسلیم شو!

ـ برو بابا کاری خودت را بګن، کاری خودم را می ګنم، مه تسلیم نمی شم.

ـ باز هم می ګویم تسلیم شو.

ـ مه نمی شم، هر چیز به دست تو می شه، بکو ، در قانون مه تسلیمی نیست.

ـ خو سهیست.

خالد تلفون قطعه کړ، نور د جنګ اماده ګي ونیوله، سهار پس له لمانځه غرززوغروز شروع شو، وقاص د هوان یو پیر وکړ، راسن د پوستې موځه وویشتله، بل وار سره د پوستې مینځ وویشت، تر اتو بجو یوه پوسته فتحه شوه، بلې پوستې ته مجاهدین د زمریانو غونډې ورغلل، په سترګو کې ډار نه وه، همداسې په جذبه ور روان ول، بله پوسته د غونډۍ په سرو نه سره اورو نه بادېدل.

ډېر بد ډم شول، یوه لحظه باد له پوستې نه خړ ګردونه پورته شول، ارامه ارامې شوه، تنها به دسپي اواز پورته کېده هغه هم د پوستې دروازې سره ټړل شوی ؤ، له پاسه یو ځوان پوستې ته منډه کړه، سپین بیرغ یې په پوسته ودراوه، ځوان په مخابره کې نارې کړې، ټول ختم دي، په همدې وخت کې، د پوستې له منځه د کلا شنکوف ډزې وشوې، ځوان له کشې نه لاندې را ولوېد.

خالد وویل: دا غږ په مخابره کې د چا ؤ؟

- یوه وویل: موږ غږ ونه پېژانده، د چا ؤ؟

خالد په مخابره کې پرې غږ وکړ، خو چا ځواب نه ورکاوه، خالد په وقاص باندې غږ وکړ، خبییه اورې!

- اورم اورم مشره امر کوه؟

- پوسته نوره ختمه ده، خالې یو هوان وولـه!

- سمه ده.

دوه دقیقې باد ډوم شول، یوه لحظه په هوا کې پښهار شو، یو دم غررز شول، هوان د پوستې په منځ کې ولـګېده، نوره په پوسته کې ارمه ارامې شوه، د سپي غپهاری هم ورک شو، خالد پوستې خوا ته ورغی، اول یې شهید ته ورمنډه کړه، شهید پړمخې په سپیرو خاورو

کې پروت ؤ، وینې د خاورې رنګ سور اړولی ؤ، یو بوټ یې په پښو ؤ او یو په کشه کې نښتی ؤ، خالد شهید راسه را واړاوه ، چغه یې کړه، فاتحه اااا!!!!

نور ملګري هم راورسیدل، وقاص په مخابره کې غږ کړ، څه خبره ده چې ټول راغونډ شوي یاستې، که تاسې هم یو هوان وولم.

خالد ورته وویل: فاتح ژوند د وباښه.

وقاص شا په تخته ولوېده، له ځمکې نه خړ ګردونه پورته شول، مخابره یې لاسه واره شوه، خطاب رامنډه کړه، په وقاص یې غږ وکړ، هغه هماسې تېزه تېزه ساه وایستله، خطاب د بوشکې سر پوښ لرې کړ، یوه لپه اوبه یې راواخیستې، د وقاص مخ ته وروشیندلې، ټکان یې وخوړه سترګې ورخطا یې سره خلاصې کړې.

شهید یې تر دولس بجو خاورو ته وسپاره، په چوپه چوپتیا کې، څوک یې خبر نه کړل، د جنګ د امله، هسې نه چې طیارې رانه شي، کار به بخي خراب شي.

فاتح اصلا د وزیرستان ؤ، د جهاد لپاره دلته راغلی ؤ، وار له واره اول له خطاب سره ملګری شو، وروسته د خالد په ګروپ کې شامل شو، ډېر د ښایسته اخلاقو څښتن ؤ، په شجاعت کې یې ساری نه درلوده، همدغه شجاعت د شهادت جام ورکړ، تل به یې په خوله کې مسکا وه، ډېره فصیحه ژبه یې درلوده، ښایست هم پرې تمام ؤ، خرمایي ویښتان یې درلوده، وړه خوله، نرۍ جیکه پزه، لکۍ داره سترګې، سوروسپین، له قده برابر، نوې ږیره برېت یې راغلې ؤ، وریځې سره نښتې وې، د مخ کاسه یې ګرده وه، د پاسنې شونډې سره خدای خال ؤ، قلمي ګوتې یې درلودې، دغه ځوانې د دوشنبې په ورځ خاورو ته وشپارل شوه، انا لله و انا الیه راجعون.

جنګ اووه ورځې دوام وکړ، هغه پوستې چې د مسلمانانو د ځورولو لپاره ګام په ګام جوړې کړې وې، پوستې د مخ د ځکې لرې شوې، د غرمې وخت ؤ، ګرمی هم خپل زور چلاوه، ستړي ستومانه په جومات کې ويده وو چې شيشې به لرزېدا شوې، ورخطا له ځايه پورته شوم، د باندې مې د اسمان په طرف وکتل، د لمر سترګه مخامخ زما سترګو ته نېغه وه، دواړه لاسونه د ترافکي خولۍ په شکل سترګو ته ونيول، راته معلو مه شوه، چې چورلکې دي، يو لحظه باد جيټ هم راغلی، ما غوښتل چې ملګري له خوبه جيک کړم، چې بېرته جومات ته ننوتلم، هغوی د جيټ له غږ سره ورخطا په ځايو کې ناست وو، وقاص خالد ته وويل: اوس څه کوو؟

خالد وويل: اوس به سره بېل شو، يو څو نفره د غنيمت مال سره په جومات کې پاتې شئ!

په همدې وخت کې غورررررر شول چورلکې ډزې کولې، له ډزو سره چورلکې (چرخکۍ) غږ به هم ډېر راتيټ شو، تا به ويل:

چې چورلکه يا به د جومات به منار، يا به د چنارو په تنو ولګېږي.

څلور نفره مال غنيمت سره پاتې شول، نور له جومات نه بهر شول، په باغو کې سره تيت شول؛ خالد، وقاص ته وويل: مرګو مردن ده، که زه شهيد شوم ، زما پر ځای ته ودرېږه!

خالده! داسې مه وايه، ان شاالله هېڅ قيصه نشته، په همدې لحظه کې جيټ پيکه وواهله، غږ يې له شا ورپسې ؤ، د يوې غږ خلاص شوی نه ؤ، د بلې غږ راپيدا شو، ښه به چې تېره شوه غو به يې ورپسې ؤ، بسته فضا کې به د غووووورررر اواز وه، وحشت ناکه ورځ وه د قيامت ورځ يې جوړه کړې وه، شل دقيقې باد د کلې له څو ځايو خړ ګردونه جيک شول، جيټ بمونه خطا کړل، چورلکو د شنو مچيو

غونډې په هوا کې ګرځېدلې، هر څه به یې چې ولیده ویشتل به یې، حتا په څېر ځایونو کې غواګانې هو وویشتلې.

جیټ یو ملاق وخواړه، له ملاق سره یو شی په تېزۍ سره خوشې کړ، داسې یو تېز پښهاری یې کاوه، یو بد ډممم یې وکړ، شیشې خو توی کړې، خو توی کړې، دروازې ورسې هم له دېوالو جدا کړې،ډېر خطر ناک بم ؤ، له مخکنۍ بمونونه دوچنده غږ یې درلوده، تا به ویل د غوږو پردې دروشکولې.

په هوا کې یو الوتونکی هم نه ښکاره کېده، کله کله په کشکرې یو یو غږ پورته کاوه، ښښښښښ.

د مازدیګر او د ماښام تر مینځه سره ورکې شوی، ارامه ارامي شوه، په ځمکه بنده بشرنه ښکاره کیده،

دا داسې ورځ وه، کومو کورونو چې تکاو نه درلوده، هغو کورونو ته به تلل، چې تکاو درلوده، د ډار زور ؤ، چا به ماشوم په غیږ کې نیولی ؤ، چا په یوه چپړکه په پښو وه، یوه نه، چا به چې تکاو درلوده، هلته به پنځه شپږ کورنۍ یو ځای کېدې، جنګ به چې ډېر دوام وکو، څوک خو به له ډاره خپل کور ته تلای نه شو، د ځینو دهقانانو مالونه یا به لمر ته یا په ګوخانه (غوجله ) کې به بند وو. داسې ورځ تنها همدا ورځ نه وه، په سلهاو نورې ورځې هم تېرې شوي دي، حتا تر اوسه پورې هم.

***

سهار شو، سپیده په اسمان ماته شوه، ستورو به له ورځ سره خدای پامانې کوله، د مرغیو شورماشور کلی په سر واخیستی وو، هر څوک د حلال رزق پیدا کولو لپاره له خپلو کورو را ووتل، په ځنګله کې یوه ناره وشوه، دلته راسئ! دلته راسئ! دا غږ به چې چا اورېده

هلته به ورتلل، د چای تر وخته اوازه خپره شوه ، چې خالد سره اتو ملګرو په شهادت رسېدلې وو، خالد په داسې حال کې شهید شوی ؤ، چې قرانکریم په لاس کې ؤ، سورت یاسن را اړولی ؤ، څلور ګوتې له قرانکریم نه راتاو کړې وې او یو غټه ګوته د سورت (یاسن) مینځ کې ایښې وه، ستوني ستاخ، له خندا ډکه خوله، سترګې یې خلاصې ښایسته تور ویښته پاش پاش په شنو واښو کې خواره واره وو، په سینه باندې د ونو میده ښاخونه او شنې پاڼې پرتې وې.

دوه نفره نور د ډنډ پر غاړه پراته وو، نور پنځه نفره نور نه ښکاره کېده، چې دا انسانان دي، که برنل شوي پسونه، مخونه یې هېڅ نه پيژاندل کېدل، اور بخې سوځولیې وو، تا به ویل چې برنل کړي د وي، اخر کلیوالو غوښې کډې وډې په څادرو کې راټولی کړې، د اتو نفرو جنازې درې بجې برابرې شوې، مولوې د اتو واړو جنازې یې وکړې، د هدیرې په طرف ټول خلک په چوپه چوپتیا روارن ول، له ټولو له بوټو نه سپیره دوړه پورته کېده، ډېرې ښځې او ماشومان په بامو ولاړ وو، تر مازدیګره شهیدان خاورو ته وسپارل، ټول شهیدان د فاتح په څنک کې خښ کړل، اول د فاتح په څنک کې خالد بیا وروسته نور اتلان خښ شول.

مولوي صاحب د پخوا په شکل تقریر وکړ، تر ماښام پورې ټول خلک لاړل، د شهیدانو چیرکټو ته به ماشومان نه ورنږدې کېدل، ماشومان به له چیرکټو نه ډارېدل؛ په هر کور کې د شهیدانو قیصې کېدې، د خالد د شجاعت د اخلاقو، جهادي کارنامو قیصې خو په هر کور د کېدېو کېدې.

***

# د مدرسې په بهانه

د ماسپښین جمعه وشوه، تول ملګري له جومات نه را ووتل، خطاب وويل:

ځئ چې وقاص دوی کره لاړ شو، چای وڅښو!

ـ وقاص: زه کور ته زنګ وواهم،

زنګ يې وواهه.

ښه.

سمه ده .

څوک راغلي؟

سمه ده اوس میلمانه دي.

نه نه اوس خپله په مرکز کې چای دمه وو،

خدای پامان.

ـ خطابه! کور کې مېلمانه دي.

څنګه کوو؟

ـ زه خير ده، مرکز ته به لاړ شو.

ـ مرکز ته!

ـ هو نو، ښه چای به دم کړو.

ـ ستاسو خوښه.

ټولو د مرکز په لور حرکت وکړ، وقاص مخکې ؤ، نور ملګري ورپسې وو.

زنګ راغی، تلفون له جیب نه را وواېست، نا معلومه شمېره وه، غوښتل یې چې شنه بټن ووهي، زنګ بېرته قطعه شو، بیا یې زنګ ور واهه، ( ستاسو حساب کم دی، شماره را که شما دایل نموده اید، از ساحه خارج و یا خاموش می باشد، لطفا بعدا تماس بگیرید، دغه شمیره چې تاسو دایله کړې، له ساحې وتلې، او یا ګل ده، مهرباني وکړئ! وروسته تماس ونسئ!

بیا یې زړه نا زړه زنګ وواهه، دا د فه زنګ یې تېر کړ،( ستاسو حساب کم دی) کننننګ کنننننګ کنننننګ

- اسلام علیکم!

- وعلیکم وسلام.

- څوک یې؟

- زه.

- هو.

- زه ستا لېونی.

وقاص لرزه وخوړه، شا ته یې وکتل، له ملګرو نه لرې وه، تلفون یې بیا غوږ ته کړ.

ورته یې وویل:

- چې نوم ما ته وانخلې، زه نور درسره نه غږیږم.

- ښه ښه زه نوم درته اخلمه .

- چې ده نوم دې؟

- نوم مې ډي

ـ په ډي باندې نه پو هیږم

سم پوره نوم واخله؟

ـ ډیوه.

ـ ډیوه!

ـ هو ډېوه.

ـ ډېوه نر ده، که ښځه!

ـ ههههه وقاصه څه درته ووایم

نور یې غږ ونه کړ.

ـ ولې غلې شوې!

ـ ولې نه.

ـ تا خو وعده کړې وه، چې نوم د ووایه ، نو زه بیا وایم مینه درسره لرم،

ـ نه زه مینه درسره نه لرم.

ـ ګوره وقاصه!

پرون په واده کې ما د مور سره خبرې وکړې، ما هم ورته یاده کړه، چې زه د ستا راتلونکې انګور یم، ستا مور راسره قبوله کړه، اوس ته چې کولای شې!؟

ـ زه د مور په خوښه کې هیڅ کولای نه شم.

ـ ښه نو بیا، ولې ما سره مینه نه کوې!

ـ په خاطر د دې زه یو مجاهد یم.

ـ نو چې ته مجاهد يې واده نه کوې!

ـ خو زما د ژوند پته نه شته ، شايد نن شهيد شم يا سبا.

ـ پروا نه کوې، زه هم د مجاهد مېرمن يم، زه به الله تعالی نه دا سوال کوم، چې په کومه ورځ چې ته شهيد کېږدې، الله تعالی د ما ته شهادت مرګ راکړي.

ـ سمه ده

زه هم ستا سره مينه لرم، او نورې خبر درسره نه کوم، زه هم په خپله وعده ولاړم او ته به درېږې.

ـ زما د په الله قسم وي، زه په خپله وعده ولاړه يم، زما او د ستا خبرې همد لته قطعه، نور ته پوهېږې او کار دې، زه يو کال نه، لس کاله درته انتظار کوم.

ـ ان شاالله، غم مه کوه، الله تعالی به هر څه اسانه کړي، خدای پامان.

ـ خدای پامان.

په خبرو خبرو مرکز ته ورسېدل، خطاب د وقاص ټولې خبرې واورېدې، کله چې وقاص تلفون جيب کې واچوه، خطاب پرې غږ وکړ:

څه خبره ده مشره!

ـ هېڅ خبره نه شته.

په اوږه يې لاس کېښود ورته يې وويل: الله درته نېکه او مبارکه کړي.

ـ هههههه.

چای تیار شو، غټه توره چاېبره کې، په هېرو هم سپېره وه، په څوکه کې منګ هم ؤ، یو څو خېرنې پیالې له چایه ډکې کړې.

فکر یې خراب ؤ، خطاب ورغږ کړ، مشره غم مه کوه!

په دې وخت کې ناره شو، هررري ډرررې د شړنګانو ترنګو ترونګ وو، رمه روانه وه، خړ ګردونه پورته کېدل، یو خر په مینځ کې روان وو، اوږده اوږه غوږونه یې نیولې ؤ، سر یې خم نېولې ؤ، یو دم یې اواز پورته کړ: اعععععععععع اعععععععععع اعععععع اعععع اعع اع پر.

خطاب، کوچي ماما ته له ورسۍ نه ورغږ کړ!

ـ کوچی ماما راځه چای وڅښه!

کوچي په کوچاني ډبل غږ یې ورته وویل:

ـ څه وایې قاری صاب.

ـ راځه چای تیار ده!

ـ ښه ښه درغلم، دا رمه د هغې ونې لاندې پټم کړم.

کوچي رمه د یوه ونې لاندې پټم کړه، سپي لرې ځان وغزاوو، خپل پوز یې د مخو پښو په مینځ کې کېښوده، اوږده ژبه را ووایسته؛ کوچي خړ پټو اوږې ته کړ، اوږد ډانګی یې له هر قدم سره په ځمکه اېښوده، زموږ خوا ته راروان ؤ، په کوچاني غږ یې وویل:

ـ سولامو علیکم!

ـ وعلیکم وسلام، حاکمه.

ـ ښه یاستې؟

ـ شکر ده، چېرته یې حاکمه له تېر کال را په دېخوا نه معلومېږې؟

ـ وله یو قاري صاب کله دلته کله بل ځای کې.

ـ ښه ښه نو ښه یې؟

ـ چوی وایې؟

ـ مالی ښه یې؟

ـ شکر ده،

چې کوی دلته.

هیڅ کرار همدلته ناست یو حاکمه، ته هم یو وری نه راکوي چې حلال یو کړو، تېر کال وعده دې هم کړې وه.

ـ چا سره یې چې خوارو زار یې، هر یو چې مو خوښیږي چپه یې کړئ!

ـ حاکمه ټوکې مه کوه!

ـ قاري صاب ټوکو مه کوه، پسې مه ګرځه چپه یې کړئ!

نن شپه به ښه بندار جوړ کړو، دوه ورځې ژوند ده.

خطاب له کوچي سره لاړه یو ښه برابر وری (پسه) یې راونیوه، په مرکز ته یې راوسته، پسه نارې کړې:

امممه مهمهمههه.

چپه یې کړ، په خېټه یې کوچي کونډې ووهلې، وقاص چاړه یې په غاړه کېښوده، پسه له سرمو نه ساه وویسته، له ځمکې نه سپېره ګرد پورته شو، الله اکبر الله اکبر، کوچي غبز وکړ قاري صاب لړ لړې شه!

وینه درباد نه شي، خطاب لږ شا ته شو، وري (پسه) زور وواهه وواهه ، نور ارامه شو، هر څه برابر شول، تر لس بجو د شپې، ډوډۍ تیاره شوه، وقاص داسې غوښه یې پخ کړی وه، چې کوچي په ژوند کې داسې غوښه خوړلې نه وه، چات ه یې نبت نه ورکاوه، په پنځو د قیقو کې له کاسې نه ټنګ یې جیک کاوه، بل رقم یې چکوش یې ورکاوه.

پس له ډوډې نه مجلس شروع شو، وقاص، ایوبي ته وویل:

ایوبي بېخي ورک ورک یې نه خبرې کوې، نه خاندې، څه قیصه ده؟

ـ وقاص صاحب، هېڅ خبره نه شته.

ـ نه هتمن شته.

ـ خبر خو دا ده، ما ته مې مور یادېږي،

ـ خو ځه ورشه، هر وخت د زړه شو بیا راسه!

ـ نه، وقاص صاحب، زه له کوره د مدرسې په بهانه راغلی یم، د جهاد سپېڅلي میدان ته.

ـ کور کې دربادې خبر دي، چې ته اوس مدرسه کې یې ، که جهاد کې.

ـ نه، نه دي خبر تر اوسه، هغوی فکر کوي، چې مدرسه کې ده.

ـ زه سبا لاړه شه!

هر وخت دي چې زړه شو بیا راسه!

ـ سمه ده.

ـ وقاص: ته قیصه وکړه، څنکه راغلې، مور ته د څنکه بهانه وکړه؟

خطابه لږ پياله کې چاى راته واچوه.

ـ ايوبي: زه د مور نازدانه زوى وم، هر څه به مې چې غوښتل راته حاضر به وه، په ما به يې کار نه کاوه، په هفته کې يو جوړ کالي به يې راته کول، هرسهار يې راته هګۍ جوش کولې، په بکسه کې راته ايښودې، حتا ډوډۍ به مې مور په خوله کې خپله راکوله، يوه ورځ مې د پلار کتابونه راواخيستل، يو کتاب مې په کې پيدا کړ، په نامه د ( د صحابو ژوند) دا مې خپلې کوټې ته راوړ، مطالعه مې کړ، پس له ماښام له لمانځه نه ورته شروع مې وکړه، تر د شپې تر څلورو بجو، يو ځلې مې مور راباندې غږ وکړ، زويه ډوډۍ نه خورې!

ـ ما ورته وويل: نه مورې موړ يم.

يو خت کتاب مې خلاص کړ، څنک ته ګورم، يو غورى وريځې سره غوښې ايښې دي، وريځو ته مې وکتل، زړه ته مې نه کېدل، ځان سره مې ويل: زه به وريځې غوښې خورم، حال دا چې صحابوکرامو نس پورې تيږې تړلې.

سړه سا يې وواېستله، خوله يې خلاصه کړه يو ځلې بيا يې خلاصه کړه، پرنجى ورغى، يو لحظه څخه وروسته وويل:

الحمدالله.

يرحمک الله

خطاب پياله ورته ډکه کړه، ايوبې د سور چاى يو غړپ وکړ، قيصه يې شروع کړه له دباندې نه د سپي نارې اوريدل کېدې، اواواواواوا... .

بیا وروسته ما اقدام وکړ، زه څنګه جهاد ته لاره پیدا کړم، ډېر مې له احتیاط نه کار اخیسته، خو اخر مې مور ته وویل:

مورې زه ځم مدرسې ته، مور مې خوشحاله شوه، راته یې ویل:

ـ څه وخت ځې له خیره مدرسې ته؟

ـ ان شاالله د هفتې په سهار.

ـ سمه ده، زه په د جمعې په مازدیګر نې نې درته وکړم، بادام، چهارمغز درته تیار مات کړم، پتیرې درته پخې کړم، سهې ده.

ـ سمه ده، مورې.

د هفتې سهار شو، لمر په غرو ولګېده، ما ځان تیار کړ، مور مې د شپې هر څه راته برابر کړې ؤ، د سهار چای مو وڅښه، خدای پاماني له ټولو سره وکړه، ټولو خویندو راپسې ژړل، ځکه تنها یو ورور درلوده، ما هم ډاد ګېرنه ورکړه، اخر یې اوبه را پسې وشېندلې. ما هم حرکت وکړ.

ـ نوید: تر اوسه دربانديې خبر نه دي!

ـ ایوبي: نه نویده، تر اوسه خبر نه دي.

ـ نوید: که سبا ورشې نو څه ورته وایې؟

وقاص ورته وویل: دا خو معلوم داره خبر ده، سبا ورته وایې:

مدرسه رخصت شوه، یوه هفته یا دوه هفتې.

شپه پخه شوه، پاو کم څلور بجې وې، ټول بې خوبه وو، د کوچې خوله وازه وازه کېده، او چته له ځایه جیک شو.

وقاص ورته وویل:

ـ له خیره حاکمه!

ـ حاکم: وله قارۍ صاب لاړ شو، دا رمه لږ وڅراوو، بیا به لاړ شم خپلې خېمې ته..

ـ وقاص: خو راځه دلته ویده شه جای خو ډېر ده.

ـ حاکم: بس خیرو سې قاري صاب.

کوچی روان شو، له رمې څرولو څخه وروسته نهه بجې لاړه، خپلو خېموته، د کوچي پلار پوښتنه وکړه،

چېر ته وې ببېگاه؟

زمونږ زړه درته نا ارامه وو.

ـ زوی: دادا به غره کې مې شپه وه.

ـ پلار: ولې رانغلې؟

ـ زوی: ناوخته شوه.

د حاکم پلار ته د حاکم خویونه معلوم وو، چې حاکم لاس خلاصی انسان ده، وار له واره پسونه یې وشمېرل، چې گوري یو کم ده، بیا یې وشمېرل، بیا یو کم ده، حاکم ته یې غږ کړ!

ـ پلار: حاکمه! و حاکمه!

ـ زوی: چې وایې دادا؟

ـ پلار: یو پسه نه شته؟

ـ زوی: دادا زه خبر نه یم.

ـ پلار: څنکه نه یې خبر؟

ته دا ډانکی راکړه!

حاکم وډار شو، وویل:

ـ هغه خو بېګاه مو هلته حلال کړ.

ـ پلار: چېر ته مو حلال کړ؟

ـ زوی: هلته؟

ـ پلار: څوک وو، نور؟

ـ زوی: طالبان وو.

د حاکم دادا نرم شو، په نرمه لهجه یې وویل:

تېول مو وخوړه؟

ـ زوی: هو دادا هېڅ پاتې نه شو.

ـ پلار: سر پښې مو څه کړې؟

ـ زوی: هغه همالته سپي ته واچولې.

ـ پلار: و د غوایی زو، ته سړی یې که غوایی.

ـ زوی: فکر مې نه ؤ.

دادا یې په وچو شونډو لمده ژبه یې تېره کړه، بیا یې وویل:

و د غوایي زو، لږ خو به دي دلته خو راوړې وه، دا درېمه میاشت ده، موږ خپله غوښه نه د خوړلې، هغه به دې دلته حلال کړی ؤ، چې مور، پلار، خور، ورور د هم خوړلې ؤ.

ـ زوی: دادا کم خو نه دي، بل چپه کړه!

دادا یې په قهرجنه لهجه یې وویل:

ـ ورکیږه د غوایي زو... .

سهار شو، اسمان شين ؤ، بنګه هم ډېره بده ګرځېده، ټول وېده وو، زنګ راغی، تلفون په لرزه کې ؤ، بنننننګ بنننننګ، ورخطا جيک شو، له ورسۍ نه د لمر رڼا په مخ ولګېده، سترګې يې پټې کړې، تلفون يې راواخيست، بټن يې ووهله،

ـ الووو.

ـ سلام وقاصه ته يې؟

ـ هو زه يم.

ـ له خوبه ډک اواز ورته وويل:

ته څوک يې؟

ـ زه شاهين يم.

ـ ښه شاهينه څه خبر ده؟

ـ دېرش بوجۍ اوړه مې درولېږل، نيم د تا دي او نيم د څنګ دوکان دار دې.

ـ سمه ده، نورڅه خو د نه دي رالېږلې؟

ـ نه نه .

ـ دعا کوه،

ـ ان شاالله.

امر يې وکړ!

ځوانانو جيګ شئ!

قوه را روانه ده.

ټول ورخطا جيک شول، اشاره يې وکړه، خطاب وويل:

ـ هو مشره هغه برابر دي،

ـ سمه ده، دوه نفر یوه ته کېنوه، دوه بل ته، زه او ته به هغه اول ته به کېنو! او دا نور د اماده وي، تعروضې عملیاتو ته!

ټانګونه راغلل، مخکې غټ غټ تانګونه وو، شا ته یې واړه واړه وو، یو نفر د ونې لاندې پټ ؤ، تنها د ریموټ انتن ښکاره کېده، نور څه نه معلو مېده، ټانګونه راغلل، پول چک نه لرې ودرېدل.

غږ شو، وقاص، وقاص، اورې وقاصه!

ـ اورمه اورمه.

ـ څلورو ته ځه!

ـ سمه ده.

ـ اورې!

ـ اورم.

ـ ټانک له پول چک نه لرې درېدلی دی، دوه نفره ته درګرده پول چک ته ننوځي.

ـ غم مه کوه، هغوی کانه وړانده دي، نه شي پیدا کولای.

ـ بېرته را ووتل، ټانک ته یې اشاره وکړه، چې راځه راځه.

ـ متوجې ورته اوسه!

ـ سمه ده، دعا کوئ!

ـ ان شاالله.

الله اکبر الله اکبر (وما رمیت اذ رمیت ولکن الله رمی) د پول چک له داړو طرف نه خړ دودونه پورته شول، وروسته ډمممم شول،

ټانګ یې له ځمکې نه دوه متره پورته کړ، د ټانګ د سر نفر خو تقریبا شل متره په هوا پورته شو، لاسونه پښې یې ښورولې، بیرته په قیر سرک ولګېده، لکه توب غوندې دوه ډوګه یې وخوړل.

نور یې ډزو ته شروع وکړه، یو حال یې شروع کړ، ټقه ټقه ډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډډ ډم خړز ډم خړز...

اګیس به یې هم کاراوه: ټوب پښښښښ غړززز...

کرار کرار مخکې راتلل، دوهم بل پول چک ته راورسېدل.

الله اکبر الله اکبر ډمممم شول، د ټانګ نېم پوز په ونه کې بند شو، او د مخې ټایرونه باغو خوا ته راوار شول، نورهم د وحشیانو غوندې مخکې راتلل، ډزې یې کولې، بل پول چک ته چې راورسېدل، دا ټانګ له بوشکې نه کم چپ شو، تنها یې د شا یې ونیوله، د ټانګ کې هم یو نفر ژوندی ووته.

نور ټانګونه محاصره شول، نه شا ته تلای شي، او نه مخکې، ځکه شا ته هم سرک خراب ؤ او مخکې هم خراب ؤ، مینځ کې پاتې شول، تعروضیان پرې راغلل، له هرې خوا د هشتادو دو د راکټ پیرونه پرې کول، ټوله سېمه اور ونیولې وه، یو غرزززو غروزززز وه، چې مه کوه پوښتنه.

رامنډه یې کړه، د سرک مینځ کي کونډه یې ووهله، شارټ یې کړ، سره لمبه د هشتادو دو له شا نه ووتله، ډممم شول له ډممم سره لنجره باد باد شوه، چې له شا له ټانګ نه د داشکې ډز وشو، راسن یې په د سینه وویشته، شا ته ولوېده، د شهادت مقام ته ورسېده، الله د شهادت ورته قبول کړي.

جنګ پنځه ساعته دوام وکړ، وروسته په شا شول، له نیم نه نیم په تېښته بریالي شول، د سرک سر اور نېولی ؤ، تور دودونه د ټانګو

نه پورته کېدل، ارامه ارامې شوه، لکه چې په اور چې اوبه توی کړې، د شهید جنازه یې راوړه، وقاص چې ورته وکتل، په ژړا شو، په ژړا کې وویل:

ته خو نن کور ته تلې، وقاص په دومره ملګرو ډېر خپه نه ؤ، لکه په ایوبي چې خپه ؤ.

د ایوبې مور خوب لېدلی ؤ، سهار خپلو لورګانو ته خوب ویل:

ما بېګاه خوب ولیده، چې ایوبې کور ته راځې، له ده سره د مدرسې زیات ملګري یې، لورګانو ورته غوړ نېولی وو، او دا خوب ما د سهار په وخت کې ولېده.

یوې لور یې ورته وویل: مورې دا خوب د رېښتیا ده، د سهار خوب د رېښتیا وي.

عایشې لورې زه لاړه شه لږ ډوډۍ زیاته پخه کړه!

وریځې هم زیاتې پخې کړه!

جنازه تیاره شوه، له درې ساعتو مزل نه، د ایوبي کور ته ورسېدل، زما په نظر موږ تقریبا شل نفره وو، زیات لاړو نه، بنګنه زیاته ګرځېده؛ د کور مخکې شور ماشور وو، ماشومانو لوبې کولې، چې د یوه ماشوم سترګې په موږ ولګېدې، زر کور ته لاړو، لس دقیقې پس یوه ښځه زموږ په طرف په خوشحالۍ راغله، موږ ته یې وویل:

ـ ښه راغلاست!

موږ یو بل ته په حېرانتیا وکتل!

هغې موږ ته وکتل، وویل یې: ولې یو بل ته په حېرانتیا ګورئ؟

چې خپله یې شا ته وکتل، ګوري یو کټ ایښی دی، پوښتنه یې وکړه، هغه څه دي؟

ـ مورې څه نه شته!

خپله ورغله مور. لاره خوشې کړه، د شهید سر ته ودرېده، وویل یې:

ـ د څوک ده؟

ـ وقاص ور مخکې شو، ورته وویل:

مور. نه پوهېږ.و مورې، دا د بل ولایت ده، هلته یې وړ.و.

ـ یو ځلې زه یې ګورم؟

ـ نه مورې په مور. نا وخته ده.

ـ چې ونه یې ګورم، تر هغو به مې زړه صبر نه شي.

وقاص خپلو ملګرو ته وکتل، اخر مجبوره شو، اشاره یې وکړه، د شهید له مخ نه څادر لرې کړئ!

چې څادر یې لرې کړ، چغه یې کړه، و زما زویه!

ته خو مدرسې ته تللی وې، تا خو ویل زه علم زده کومه، د تا خو یې ما ته جنازه راوړه، د مور له فریاد سره ټول د ایوبي ملګرو ژړل، مور یې په فریاد کې ویل:

ته چا راته شهید کړې.

پاو لا تېر نه وه، چې دې کلی ټول خلک را خبر شول، خو اخر تر ماښام نا وخته  پورې شهید خاورو ته وسپاره.

***

# کله چې واده په وینو بدل شو

شپه وه، د سپوږمۍ رڼا خوره وه، درب شول، دروازه خلاصه شوه، راغی،موږ خوا ته چې رانږدې شو سګروټه یې له لاسه  لرې خطا کړه، مور مې د ماښام فرض لمونځ کوه، سلام یې وګرځاوه، راته وویل:

ـ څوک ده، زویه؟

ـ نه پوهیږم سیوری ښکاري خپله نه، ورغږ مې کړ، څوک یې راځه کنه!

نفر راغی، بیرته په شا شو،

ورنارې مې کړې، راځه ماما ومې پیژاندې، ماما مې په خندا راغی، ویل یې: وډار شوئ!

ـ نه ماما، موږ فکر کو، چې دا به څوک وي!

ـ ښه، ښه یاستئ؟

ـ شکر الحمد الله،

زامن د ښه وو؟

ـ وله ښه وو، څنکه د خور مې

ـ ښه ده، لمونځ کوي.

مور مې لمونځ خلاص کړ، راغله لاس یې ورور ته ورکړ، ستړی مشې وررور!

ـ خیروسې خورې، ښه یې، کراري ده، شپې ورځې مو پخیر دي؟

ـ شکر ده، ورور کراره کراري ده، ستاسو څه حال ده، زامن لورګاني دې ښې دي؟

ـ فضل د خدای ده، څنکه ده وقاص؟

ـ ښه ده، شکر، دا هم نن درې بجې راغی.

ـ ښه څنه یې اوږده کړې ده، ښه کوژده ورته نه کوئ!

ـ نه ورور تر اوسه وړکی ده.

ـ څه وایې خورې!؟ شل، دوه وویشت کلن ده، زما زوی څه کم اتلس کلن ده.

ـ موږ خو کوژده ورته کو، خو دا څه وایې؟

ـ دا خو شین ناست ده، که څنکه وقاص خوارزاده؟

ـ وله موږ به څه ووایو، ماما؟

ـ ښه وروره څوک به ورته وکو!؟

ـ ولې زما لور ګانې کمې دي؟

وقاص چې دا خبره واورې ده، مخ یې تک سور شو، مور یې هم خاموشه شوه، درب شول، پشکې د شیدو ستل چپه کړ، د خوقاص مور ورخطا جیکه شوه، جارو ته یې لاس کړ، پشکې پسې واره کړه، یو څو الفاظ له خولې وویستل:

یو خو تا مرداره کړه، کله سهار دیکی چپه کوې کله ماښام، پشکې مېومېو ورته کول، لاړه له د بادام په ونه وختله، دیوال ته یې خېز کړل ، لاړ ورکه شوه.

لاړو جیک شو، دروازه یې خلاصه کړه، د جومات په طرف لاړو، هلته یې وکتل، یو څو ځوانان د جومات مخکې ناست دي، یو ځوان ورغږ کړ، قاري وقاصه راشه!

دا اوس موږ یادولې، عمر د زیات ؤ.

ـ سلام علیکم!

وعلیکم وسلام، راځه دلته کېنه!

ـ ولې مو زه یادولم!؟

ـ د ده په خاطر، تا د عمر د شهادت په ورځ موږ د عمر یو خاطره ویلې، الله د عمر شهادت قبول کړي، هغه قیصه پاتې شوه.

ـ کومه!؟

ـ ولې د کچالو د غلا.

ـ ښه ښه، غوږ شئ!

کچالو مو غلا کړي وو، د قولخکې په خاطر، چې ښتن یې راغي، موږ یې ګېر کړو، یو پړق بل پړق یې راکړ، ما ورته ویل: ماما زه نه وم، عمر ؤ، عمر د خدای وبښې، زموږ له حقه، هغه ورته ویل:

زه په خدای که ومه، ما اوبه لګولې.

اخر یې ځان سره روان کړو، خپل کور ته، هلته ګوخانه( غوجله) کې بندې کړو، یو شپه یې بندې کړو، بیا یې خوشې کړو، موږ ته یې ویل: توبه وباسئ!

بیا مو خوشې کوم، خالد ورته وویل: سمه ده، د کچالو ښتن ته ښځې یې غږ وکړ، دلته راشه!

هغه چې هغې خوا ته وکتل، موږ منډه کړه.

د ماښام لمونځ مې په جمعه وکړ، کور ته راغلم، ډېر وږی وم، مورته مې وویل:

چې دې پاخه کړي دي؟

ـ زویه! کچالو پاخه کړي دي، خو تر اوسه پاخه نه دي،

ـ زه خیر پروا نه کوي، لږ وچه ډوډۍ په اوس وخورم، د زړه چونجی مړ شي.

ـ زویه ماما خو د ویل: زما لور د خپله اېنګور کړه، ایا ستا خوښه ده!؟

ـ نه مورې، زه هغه، نور غلی شو.

ـ زویه زه پوه شوم چې ته څه وایې؟ که د هغه خوښه وي، نو سبا په ورشم، سمه ده!

ـ سمه ده مورې، هغې ما ته زنګ تر اوسه دوه ځلې وهلی ؤ، ما خپله لیدلی نه ده، خو له خبرو ډېره خوش اخلاقه، هوښیاره، معلومېده.

ـ زویه تنها دا صفتونه نه لري، نور هم لري، اول خو دین داره ده، پنځه وخته لمونځ په خپل وخت کوي، په هغې ورځ چې واده وه، تنها دې لمونځ وکړ، نور یوې ښځې هم ونه کړ او بل دا چې ډېره ښایسته هم ده، د سترګو ګاټې یې شنه دې، بادامې سترګې لري، په سترګو کې حیا پرته ده.

ـ ښه مورې، نور وایه،

ـ وایمه یې، زویه غوږ شه!

پانه یې کنج کنج دي، وربځې یې سره ببلې دي، ارایش ته هېڅ ضرورت نه لري.

- مورې بس که نور مه وایه تقوا راته خرابه نه کړې!

- نه زویه دا د ستا حق ده.

- ښه وایه نو!

پزه یې جیکه نرۍ، تاخچه هم لري، چهارګل په ډېر ښایسته ښکاره شي، خوله یې وړه، شونډې یې نرۍ، لپیسپرین ته ضرورت نه لري، غوړ.ونه ډېر ښایسته واړه واړه دي، زنې سره ښایسته خدایې خال ده، سپین د سپوږ.مۍ غوندي مخ لري، د مخ کاسه یې قلبي ده، د دواړو غاښو مینځ کې فاصله ده، اوږ.ده خرمایي ویښتان لري، هغه هم توني توني دي، له قده نه جیکه او نه ټیټه ده، په ملا نرۍ، د لاسو ګوتې یې لنډې لنډې، پښې یې وړې وړې نور بس ده نو.

- مورې هو نور بس ده، سمه د جنت حوره د جوړه کړه، او سبا به هتمن ورځې!

- سمه ده زویه.

ډوډۍ خلاصه شوه، لمونځ یې وکړ، لاړو ویده شو، خوب نه ورته تر سهاره پورې رنګا رنګ تسمیمونه یې نیول، سهار شو چرګانو اذانونه وکړل، لمونځ یې وکړل، د تلاوت نه وروسته د سهار چای وڅښه، مور یې ورته وویل:

لس بجې به ورشم.

- خوښه دې مورې!

مور یې چادري په سر کړه، له خپلې وریندار سره لاړه،( یعنې د وقاص له امه سره).

دروازه يې وټكوله، ټک ټک ټک.

څوک يې؟ دروازه يې خلاصه كړه، بېرته يې منډه كړه، لږ ځنډ وروسته يوې ښځې غږ كړل، راځئ!

مورږ ورغلو، د تكاو له ورسۍ نه يوې انجلۍ مورږ ته كتل، چې ما ورته وكتل، په خندا شوه، لاړو په مخامخ كوټه كې كېناستېدلو، پردې يې كش كړې،

- ډېوې چاى راوړه!

- سمه ده مورې.

د ښځو مجلس ګرم شو، ګلې ګوزارې شروع شوې، غيبت مجلس ته هم راكډ شو، تا داسې وكړل، ما داسې وكړل، فلانكۍ ما ته دعا ته رانه غله، زه هم د زوى مباركۍ ته نه ورځم، هغه چا سره نه يې كوي، زه هم نه ورځم، نن سبا د زوى ديک شاني ده، زه هم نه ورځم، غيبت شروع ؤ.

چاى يې راوړ، ټولو سره يې سترې مشې وكړل، د ښځو سترې مشې خو معلوم دي. سترې مشې خور ښه يې بچان د ښه دي، او نور مچوګانو ته شروع وكړي، ټپو ټوپ يې شروع كړي وي، خير په هر صورت، مېوه دانې سره وويشلې، او نوره دروازې سره كېناستېدله، د انجلۍ مور وويل:

- راځه چاى وڅښه!

- نه مورې زړه ته مې نه كېږي.

انجلۍ د وقاص مور ته د باڼو لاندې وكتل، موسكۍ شوه، نور يې ځان مصروفه كړ، د كميس خالونه يې شكول.

د وقاص مور ياده كړه، انجلۍ اوچته جيكه شوه.

ـ د انجلۍ مور وويل: نه تر اوسه وړه ده.

ـ پروا نه کوي څلور کاله واده مه راکوئ!

ـ زه به نو څه ووايم: چې سړی مې چې وايې.

ـ سمه ده، تاسې سره مشهوره وکړئ!

هلک خو ماشاالله ښه هلک ده، ښه لمونځ ګزاره ده، درسو کې ښه لايقه ده، ديني درسونه يې هم ويلې دي، مجاهد ده، په ښايست کې هم ساری نه لري، نور نو چې غواړئ!

ـ زما خو خوښه ده، د ضيا الرحمن پلار به چې وايې، تاسې ماسپيښين ته نارينه راولېږئ!

ـ ښه خبر ده.

اوچته جيکې شوې، چادريانې له کوټ بند نه راواخيستې، کشو ګير کشوګير، راځئ! پاتې شئ! غرمه نږدې ده، دا خو ښه کار نه ده!

ـ نه خيروسې ځو نا وخته کېږي.

راغلې، يو بل ته وايې:

اخلاق خو ډېر وکړل، لکه چې د دوی هم خوښه ده.

ـ همداسې ښکاري.

پس له ماسپيښېن له جمعې نه د کلي يو څو مشران د وقاص له پلار سره لاړل: شيرګل، ظفرګل، داود، د کلي ملا امام لاړل.

غږ يې وکړل، شريفه!!! و شريفه!!!

ـ درغلم.

راغی، ټولو سره یې سترې مشي وکړل، مخکې شو، د مهمانخانې دروازه یې خلاصه کړه، له یو څو د قیقو وروسته چای یې راوړ، بنه مېوه یې برابره کړې وه، بادام، پسته، چهارمغز، اوداسې نور په غټو غټو مېوه دانېو کې راوړل، له یو څو دقیقو وروسته د کلي ملا امام یاده کړه.

اول ډېر جدي لاړو، وروسته لږ نرم شو، د دسمال نښه یې ورکړه، وویل: سبا ته دسمال وپسئ!

سبا لس بجې دسمال یې ویوړ، ټول خوشحاله وو، د وقاص پلار د سهار د چای د ختم پرګرام تیار کړی ؤ، بنه یو پسه یې چپه کړی و.

وخت تېرېده پوره پنځه میاشتې پس واده امادکې شروع شوه، پنځه لکه ولور یې واخیست او نور خرچ خانه( کورخرچ) دا یې هم واخیست، نور د واده لپاره پنج شنبې ورځ انتخاب شوه.

وقاص ډېر خوشحاله ؤ، خپلو ملګرو ته یو رقم کالي یو رقم سپین سروپزبوټونه، هرڅه یو رقم، یې واخیستل.

واده تیار شو، په دې ورځ بنګنه ببخي بې رقمه ګرځېده، خطاب موټر ګل پوش کړی و، پس له ډوډۍ نه ناوې پسې تقریبا شل موټره لاړل، پاو کم پنځه بجې موټرو بېرته حرکت وکړ، ارنګونه شور ماشور د خوشحالۍ ترانې فلمرداري، بازې خلک د موټرو له شیشو نه نیم ځانونه راویستلي وو، خوشحاله خوشحالي وه؛ یو دم ډمممم شول، پښښښښهاری رانږدې شو، غرززز شو، ګل پوش موټر نور په وینو رنګ شو، د وقاص دعا د الله په دربار کې قبوله شوه، ډېوې دعا هم قبوله شوه، دواړو د شهادت جام تر لاسه کړ، اوس هم د دواړو قبرونه د سرک په غاړه دي.

انا لله و انا الیه راجعون.

پای

۱۴۰۳-۸-۲۰

# يادابنت.........................................................................

.............................................................................................


لا إله إلا الله محمد رسول الله